


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


## کتاب ځانګړنې

**کتاب نوم :  هیله ښوونکې خبرې**
**ژباړه: هېواد بریال کومکي**
**خپرندوی: یار خپرندویه ټولنه**
**ډېزاین چارې: رحمن الله بهیر**
**برېښنالیک: yar.pulisher@gmail.com**
**چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه**
**چاپ وار : لومړی.**
**چاپ کال: ۱۳۹۷ لمریز.**

یار خپرندویه ټولنه

د کتاب تر لاسه کولو ځای:

یار کتاب پلورنځی، اسحاقزی مارکېټ لاندېنی پوړ جلال اباد ښار- ننګرهار. ننګرهار مومند کتاب پلورنځی، افغان پلازه، ګردیز، علمي کتاب پلورنځی، کابل مستقبل کتاب پلورنځی، پکتیا مجاهد کتاب پلورنځی، خوست غرغښت کتاب پلورنځی.


د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هیله ښوونکې خبرې

هیواد بریال کومکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

ښېړنوال بسم الله حقمل، محمد غفور مهيدي، ډاکټر بادشاه زر ابدالي، زاهد شاه انګار، میرولي جان لکنوال، نصير احمد روښان، محمد رسول رسولي، سمونمل محمد یعقوب کومکي، استاد نورالله ښاد او په ځانګړې ډول زما د فکري ویښتیا او د هند د ازادۍ مشعل باچاخان ته چې ما ترې د مبارزې ایډیال خپل کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هېواد بريال کومکي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سريزه

ليکوال ته !

هېواد بريال کومکي صاحب ! جنتي شې چې پر ما دې حساب وکه او خپل کتاب (هيله ښښوونکې خبرې) دې مخکتنې لپاره راوسپاره. ياده به کړم چې د کتاب په سمون کې مې د خپل وس په اندازه قلم خوځولی دی.

درنو لوستونکو ! زما په فکر هيله ښښوونکې خبرې لعل او جواهر دي چې د نړۍ په فکري ذخيرو کې موندل شوي دي. بريال صاحب ورته د خپلې ژبې اوبه ورکړې او په يو کتابي تار يې سره وپېيلې. غم دې يې خدای (ج) نه را باندې ويني. ژوند هغه ښايسته ناوې ده چې خندانه او مهربانه وي. که دا جواهرات پرې پورې شي، نو زاړه او زلمي به ورته سترګګونه ووهي.

په دې کتاب کې راوړل شوې خبرې د ژوند لپاره اب حيات ګڼلی شو. تقريبا د ژوند د هر اړخ په تړاو ويناوې په کې دي. لکه: مينه، دينداري، اخلاق، علم، د وخت ارزښت، فکر، عمل، رهښتيا، ښښل، مهرباني، زړورتيا، قوي اراده، مقاومت، برياليتوب، هدف تعقيبول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



صبر، روغتیا، خدمتګاري په ټوله کې د انسانیت او ښه ژوند معیار په کې بیان شوی دی.

**ستا د ښایست ګلونه ډېر دي**
**ځولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه**

د موضوع د لنډون او د کتاب د منځپانګې د انعکاس لپاره یوازې د مینې په تړاو څو ویناوې راخلم. دا په دې چې مینه د انسانیت مور او د ژوند چینه راته معلومه شوه.

1. مینه یعنې په نیمه شپه کې له خدای (ج) سره ناسته ... (محمد ص)
2. مینه مه هېروئ او ناڅیزه یې مه شمېرئ. (اپلاتون)
3. تل پر مور مېین اوسه ځکه چې هېڅکله به د هغې په شان بیا پیدا نه کړې. (والټ دیزني)
4. له انسانیت سره مینه، له یو انسان سره له مینې غوره او بهتره ده. (لاما)
5. موږ ته د ضرر رسولو تر ټولو لوی قوت له هغو سره دی چې مینه ورسره لرو. (فرانسیس)
6. هېڅوک نه شي کولی پر مینه حکومت وکړي، خو دا مینه ده چې پر هر چا حکومت کوي.(لافونټین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

دا کتاب له ځان سره ډېرې خبرې لري، نور مو نه وخت نه نیسم او د کتاب لوستو ته مو رابولم.

**عصمت الله کرم**
**کابل پوهنتون – پښتو څانګه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

ډېر د نیکمرغۍ احساس کوم چې یو ځل بیا د لوی څښتن تعالی په مرسته  په دې بریالی شوم، چې یو علمي اثر خپلې ټولنې ته وړاندې کوم. هیله ښښوونکې خبرې هغه اثر دی چې منځپانګه یې د ماتو او سړو زړونو د بیدارۍ او له ویښښوونې غبرېږي، د هغه ککریو لپاره چې د ژوند او مبارزې په کارکې یې حواصله بایللې ده او په ځان کې د بیا راپورته کېدو ځواک نه لري، ډېرې خبرې لري. ما په خپل فکر دا کوښښ کړی چې د نړۍ د نامتو څېرو هغه ملغلرې چې په انسان کې د مثبت تغیر د پیښښوونې په هکله بارز رول لوبولی شي، راخیستې او له مختلفو ژبو مې خوږې پښتو ته ژباړلي دي.

د دې اثر د اغېزمنتیا په اړه به له چاپ وروسته پوه شوم، خو ویلی شم د هغو لپاره چې اړتیا ورته لري، د پام وړ بدلون رامنځته کولی شي. دا کتاب د ژوند د مختلفو برخو په باب یو اوږد بحث له ځان سره لري، چې حل لارې او فکرونه یې هم له یو بل سره په څرګند ډول توپیر پیدا کوي.

انسان د خپل پیدایښت سره سم د ځان او مکان په باب په مبارزه بوخت دی، د ژوند دا لار هېڅکله له خنډونو، ستونزو او مصیبتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

خالي نه ده او بشر مکلف دی چې د خنډونو د لرې کېدو او له ستونزو څخه د خلاصون لپاره کلکې ملاووې وتړي، ترڅو هوساینه او ارامتیا لاسته راوړي. دا حقیقت دی چې انسانان د دروني جوړښتونو له مخې له یو بل خپله لار بېلوي او هر یو یې د مجرد تفکر څښتن ګرځي. همدا تولیزې ککرۍ د ژوند د پېښو په باب هم له یو بل سره جوړ نه راځي، د حل لارو، درک او اندونو له پلوه هم سره یوه خوله نه دي او هر یو په خپل فکر بېله لار ویني. همدا لامل دی چې نړۍ له بېلو انسانانو ډکه ده او انسانان له مختلفو فکرونو.

دا به حقیقت وګڼو چې انسان له ګاڼې کلک خو له ګل نازک دی، د همدې خبرې پر بنسټ د ستونزو سره د مبارزې په لار کې انسان هم دوه ډوله رول افاده کوي، ځینې ژر تسلیمیږي او ګونډې وهي، خو نورو یې بیا دا چل زده کړی چې څنګه دا ستونزې وزغمي، حل لارې ورته ولټوي او د ژورو فکرونو په واسیله یې له مخې لرې کړي. دا کتاب د هغو سره مرسته کوي چې د ستونزو سره متقابله مبارزه غواړي، په ځان کې د بیا راپورته کېدنې او په خپلو پښو د ودریدنې خوبونه ویني، د بریا په اینه کې ځان کتل غواړي او د داسې راتلونکې هیله لري، چې هلته ماته، ناهیلي او زړه نه کېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هيله بښوونکې خبرې**

وجود ونه لري، هلته چې يوازې پر ځان د نه ماتېدوونکې باور اندونه خپل شي او سبا ته د ځلېدوونکې لمر په څېر وکتل شي.

پاتې دې نه وي چې ما د دې کتاب په محتوا کې هغه خبرې هم راخيستې چې ويناوال يې معلوم نه وو، خو د معنوي ارزښت له بابته اړ شوم چې راويې ژباړم. د دې کتاب د تېروتنو د اصلاح په برخه کې راسره ډېرو ملګرو مرسته کړې، خپل قيمتي وخت يې پر دې کتاب لګولی او لازمې لارښوونې يې راته کړې، چې زه ورڅخه د زړه له کومې مننه کوم او په يوه ښکلې جمله يې داسې نازوم: بې تاسو دې نشم !

په درنښت

**هيواد بريال کومکي**
**خوست – افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د انسان د ظاهر په لیدو قضاوت مه کاوه، ممکن یو لوی زړه د زړو جامو لاندې پټ شوی وي.

***

له ناوړه انسانانو سره د اړیکو پرېکول په دې مانا نه دي چې له دوی کرکه لرو، بلکې په دې کار سره موږ خپل ځان ته درنښت وربښو.

***

په نړۍ کې یوازینی څه چې له هر چا تا ډېر کړوي، ستا ذهن دی.

***

د نړۍ هېڅ ښکلا د هغه انسان پر وړاندې چې دننه زورېږي، خو بهر یې موسکا پر شونډو خوره وي، د پرتلې وړ نه ده.

***

ښکلې څېره هېڅ ده، که چېرې بد سیرت یې ملګری وي.

***

تل به داسې څوک شتون ولري، چې د لارې په مخکې دې ګاڼې واروي، دلته په تا پورې اړه لري چې له دغو ګاڼو څه جوړول غواړې؟ پل که دیوال. پام دې وي چې همدا تاسو د خپل ژوند معمار یاست.

***

مهربان اوسه! شاید سبا ونه وینې.

***

زه د هغې څه مسوول یم چې وایم یې، نه د هغې څه چې ته یې تصور کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښونکې خبرې

هنري اثار په دوو دليلونو د ارزښت وړ دي: لومړی دا چې د ښوونکو لخوا منځته راغلي او بل يې شمېر کم وي. (اګ ماندينو)

***

هېچا ته د دې اجازه مه ورکوه، چې په خپل بد رفتار سره ستا ارامتيا درنه واخلي.

***

تاسو پوهيږئ !
ژبه هېڅ ډول هډوکي نه لري خو دومره قوت لري، چې ستا زړه متولی شي.

***

له نن ورځې وروسته !

کله چې د تير په هکله فکر کوم، له خندا وروسته به ځان ته ووايم، هېڅ مې فکر نه کاوه چې زه به ترې راووتی شم، خو ترې راووتم. ما پر هغو ټولو چې زه يې له پښو غورځولوم، نه ماتېدونکې بريا ترلاسه کړه.

***

د يو چا ښښل ډېر اسان دي، خو چې وکولی شې پر هغې بيا باور وکړې، ډېر ګران.

***

په دروغ ويلو دې خپه نه يم، خپه په دې يم چې له نن وروسته نور نشم کولی په تا باور وکړم.

***

د يوه ښکلي او معصوم انسان نښه دا ده چې تل د نورو انسانانو ښکلاګانېويني.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

زیاتره خلک د دې پرځای چې ستا پر هدف ځانونه وپوهوي، تا ته ځواب درکوي.

***

که تنها یې د خپل فکر او که مجلس کې یاست د خپلو خبرو خیال دې ساته.

***

اې ! مه خپه کېږه !

ایا د پرون خفګان دې کومه ګټه لرله ؟ زر ځلې چې خپه هم شې بیا هم ګټه نه لري، نو په خندا سره خپل ځان خوښ وساته !

***

انسانانو به له تېروتنو ډېر څه زده کړي وی، خو که له دغو تېروتنو یې انکار نه وی کړی.

***

وخت تصمیم نیسي چې له چا سره وګورې؛ زړه پرېکړه کوي چې څوک د خپل ژوند ملګری جوړ کړې او رفتار دا ټاکنه کوي چې څوک دې په ژوند کې پاتې کېږي.

***

ګرانه !

مهمه نه ده چې نور ستا په هکله څه فکر کوي، مهمه دا ده چې ته د ځان په هکله څه فکر کوې.

***

زما د زړه ګناه څه ده چې ستا څېره ښکلې ده، صفت ته دې اړتیا نشته، زه ستا د لیدو لپاره له لارې تېرې راغلی یم، خو افسوس چې ستا یو ځل لیدل یو خوب او بیا هم یو خوب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښښوونکې خبرې

زه د نړۍ یوه بې دلیله پدیده یم، دا چې ته یې، زه د پیداینبت تر ټولو ستره بهانه شوم، مینه درسره لرم او بیا ...

***

خزان د پسرلي د وړمو زیرې دی، پر اسمان د لمر وړاندې توره تیاره خوره وي، طوفان که هر څومره له ویرې ډک دی خو شنه زرغونه یې رڼا ښښوونکې ده. سختې ورځې مخکې له خوږو ورځو راځي، هیله له لاسه مه ورکوه، نه پوهیږې سبا به څه پېښ شي.

***

اعتراض ! هغوی چې ستا په رټلو لاس پورې کوي، معمولا نه پوهیږي په څه چل ستا اوسني موقف ته ځان ورسوي.

***

مثبت اوسئ ! تل دې ورځ په ښکلو فکرونو پای ته ورسوه، مهمه نه ده چې څومره سخته تېره شوه، سبا د ښه کولو لپاره بهترین فرصت له ځان سره لرې.

***

نیکمرغه اوسه !

هغه څوک اوسه چې غواړې یې، که چېرې نور ورسره مینه نه لري، پروه یې مه کاوه، خو په یاد ولره چې نیمکرغي یو انتخاب دی.

***

فکر یې کاوه چې په ما به تر خاورو لاندې کړي، افسوس له دې چې زه په خپله یو تخمن وم. (ا.چ.ګوارا)

***

خوښ اوسیدل یوازینی انتقام دی، چې انسان یې له ژونده اخلي. (ا.چ.ګوارا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

هېڅوک په خپل ژوند کې مه ملامتوه؛ ښه خلک ستا لپاره نیکمرغي راوړي او بد خلک ستا لپاره تجربه. بدترین ستا لپاره عبرت ګرځي او بهترین ستا لپاره یوه خوږه خاطره.

***

هېڅکله بل چا ته په بې ادبۍ سره ځواب مه وایه، هر څوک چې ستا پر وړاندې بې ادبي کوي، په حقیقت کې تا ته خپله اصلي څېره درښیي. زړه ته یې مه اچوه او پر وړاندې یې هېڅ ډول غبرګون مه ښیه.

***

د سپېڅلتیا لپاره بسنه کوي چې دروغ ونه وایاست، د ښه اصالت پیل همدا دی چې نه غواړې هغه څوک واوسې، چې نه یې.

***

ستر انسان خپل ځان ملامتوي او کمزوری انسان بیا بل.

***

نن په کور کې پاتې کېږم.
د هر چا پر وړاندې خپل ور تړم.
خو،

بیا هم ځي او راځي زما د ذهن کور ته
بې وره او بې پیکره
هغه نامرده دوستان او اشنایان. (عباس)

***

هغوی چې مینه درسره لري، کولی شي ستا غږ واوري، حتا که په ژور او درانه خوب ویده هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د ژوند تر ټولو لوی خوند په دې کې دی چې له ځان سره مینه ولرې، ښه وکړې، نور وبښې، چا ته تکلیف ونه رسوې او مثبت واوسې.

***

که چېرې له خپلې موسکا ګټه پورته نه کړې، ته به هغه یاست چې په بانک کې له ځان سره میلیونونه ډالر ولري، خو نه د ورکړې لپاره سپین چیک.

***

د فساد تر ټولو لویه سرچینه بې کاري ده. (پاسکال)

***

که د مخالف لوري دلیل تا عصباني کوي، دا د هغه څه ښکارندوی دی چې په اړه یې فکر کوې او د دفاع لپاره یې پر ځای دلیل له ځان سره نه لرې. (راسل)

***

کله چې مرغان ژوندي وي حشرات خوري، خو برعکس کله چې الوتونکي ومري بیا یې حشرات خوري. وخت او شرایط دواړه تغیر موندونکي دي، په ژوند کې څوک مه رټه او چا ته ازار مه ورکوه، ممکن نن به قدرتمند اوسې، خو پام دې وي چې وخت له تا سل ځلې پیاوړی دی !!!

***

یوه ونه د سوزونې میلیونونه لرګي تولیدوي، خو کله یې چې وخت را ورسیږي یوازې یو سوزونکی د میلیونونو ونو د سوزیدنې لپاره بسنه کوي، نو ښه اوسه او ښه وکړه.

***

مهمه نه ده چې نور ستا په اړه څه فکر کوي، که چېرې خدای (ج) تاسې په همدې ډول پیدا کړې یاست، حتما یو دلیل به لري، پام مو وي چې یو اصلي جنس تل له خپلې کاپي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښوونکې خبرې

ښه بیه ارزي.

***

ښځه ! د یوې ښځې ګذشت او مهرباني د هغې د روح ښکلا او نرمښت ښیي، نه د هغې د کمزورۍ نښه .

***

د زړه تر ټولو لویه زوریدنه دا ده چې تر څنګ یې اوسیږې، خو پوهیږې چې هیڅکله به یې ترلاسه نه کړې شې. (ګارسیا مارکز)

***

یو وار د هر څه لپاره ډېر وژاړه ! دومره زیات چې اوښکې دې وچې شي، بیا دې د ژوند پاڼه واړوه، پښې دې په حرکت راوله، د راتلونکي په هکله فکر وکړه او هر څه له سره پیل کړه.

***

که د ژوند د تغیر په موخه د یو چا په لټه کې یاست، ائینې ته مخامخ وګوره، هغه بل څوک نه، په خپله ته یې.

***

باور ! باور د یو سپین کاغذ په څېر دی،کله چې څېرې شي بیا نشي کولی لومړنی حالت غوره کړي.

***

ځینې باید له خپل تیر ژوند څخه وباسو، په ډېرساده دلیل سره، هغوی زموږ له راتلونکي سره نور هیڅ اړیکه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

یووالی یو پیل دی، یوځای پاتې کیدل یو پرمختک او ځنک په ځنک کار کول یو ستر بریالیتوب . (هنری فوره)

***

که چېرې هګۍ له بهره ماته شي، دا د ژوند پای ښیي، که چېرې له داخله ماته شي، بیا نو د نوي ژوند پیل. پام مو وي چې تر ټولو ښه شیان او لوی بدلونونه تل له درون څخه پیلیږي. (جیم.ک)

***

ډېر ژور توپیر لري، هغه چې تا غواړي او هغه څوک چې د ساتنې لپاره دې هر کار کولی شي.

***

د یوې شیبې غلطه پوهیدنه کولی شي د زرو خوږو خاطرو ، چې یو ځای مو تیرې کړي، هیرې کړي.

***

د خلکو له طرز فکر سره مینه مه کوئ ! ځینې دې ښکلې فکرونه لري، ښه غریږي خو ژوند ښکلی نه تیروي. ( رومن پولنسکي )

***

تل وخنده او خوښ اوسه ! یوه ورځ به ذهن په خپله ستا له ازارلو لاس واخلي.

***

ژوند عادلانه نه دی، بهتره ده چې ته هم له دې موضوع سره ځان عادت کړې. ( الیس.م)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښوونکې خبرې

نشو کولی د ځان په اړه د نورو احساس او فکر ته تغیر ورکړو، بې ځایه هڅه مه کوه، خپل ژوند وکړه او خوښ اوسه!

***

یوه ورځ به هېر کړو، چې څه دردونه مو ولیدل او لامل یې څوک و؟ دې ته مو پام کېږي چې د ازادۍ رمز غچ نه بلکې دا دی، چې پرېږدو هر څه په خپل وخت کې معلوم شي. هغه څه چې ارزښت لري، د لومړۍ په پرتله اخیر فصل دی چې موږ ته لارښوونه کوي مسیر مو څه ډول تعقیب کړی دی. نو وخنده، بښنه وکړه، اعتقاد ولره او مینه زده کړه.

***

تر هغه چې د نورو له بریاوو خوښ نه شو، نور به زموږ له ماتو هم غمگین نه شي.

***

خپلو اولادونو ته د بډاینې پرځای دا ور زده کړئ چې څنگه وکولی شي نیکمرغه واوسي. کله چې لوی شول، دوی د شیانو قدر پېژني نه یې قیمت.

***

لمر ته باید بد ونه وایو، حتا که لوږه تبه هم ولرو.

***

تل مو زړه ته غوږ کېږدئ، که څه هم ستا په چپ لوري کې قرار لري، خو تل به ربښتیا وایي.

***

هېڅوک ستا په شان نه دی، هېڅ زمان او انسان له تا سره د تشبیې وړ نه و، نه دی. ته نه یې، دا د خدای (ج) تر ټولو بې رحمه امتحان دی، چې اخلي یې.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښوونکې خبرې

تاسو په دقیق ډول د طبیعت ژورو ته دننه شئ، همدا ده چې ټول شیان به ښه درک کړې شئ. (ا. انشټین)

***

په مینه کې لومړی ګام دا دی چې اجازه ورکړو له هغې سره چې مینه لرو هماغه اوسي، باید له هغې د داسې بدلون تمه ونه لرو چې موږ ته منلی وي، په دې صورت مینه یوازې له یوه اړخه تکمیلیږي او دا د مینې سره خیانت دی. (میرتون)

***

له هغه چا نه چې زړه دې ژاړوي، یوازیتوب سل ځلې غوره دی.

***

حکایت! هېر کړای شوي، هېڅکله هیرونکي نه هېروي.

***

ښښنه وکړئ! خو اجازه مه ورکوئ له تاسو سوء استفاده وکړي.
مینه ور زده کړئ! مګر مه پرېږدئ چې له زړه سره دې بد سلوک ترسره شي.
باور وکړئ! خو ساده او زر باور مه کوئ.
د نورو خبرې واورئ! خو خپل غږ له لاسه مه ورکوئ.

***

اي انسانه! د خپل ځان قیمت وپېژنه! دومره قیمتي یاست چې یوازې لوی ذات ستا د اخیستنې توان لري، نو ځان دې په کم قیمت د غارت او چپول غېږې ته مه سپاره!

***

سترګې! د بدن یوازینی ځای چې ممکن تر اوسه روح په کې باقي وي، سترګې دي. (سارا ماکو. ژوزه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

انسانانو دا حقیقت هېر کړی، مګر ته یې مه هېروه ! تر څو چې ژوندی یې، د هغو شیانو مسوول یې چې اطاعت غوره کوې.

***

که بده ورځ لرې، په یاد ولره چې نورو به له تا بدتره ورځ درلودلې وي. د هغه څه په اړه چې لرې یې شکر وباسه ! شاید نور دا هم ونه لري.

***

پوهیږئ ! کله چې خوښ یاست له موسیقۍ خوند اخلئ، خو کله که ناخوښ یې د سندرې درک ته لویږئ، همدا د موسیقۍ قانون دی.

***

که چېرې نړۍ ته فقیر راغلی یاست، دا ستا ملامتیا نه ده، مګر که چېرې له نړۍ فقیر درومې، دا ستا لوی اشتباه ده. (بېل ګېټس)

***

د ماشومانو لپاره تر ټولو مهم څیز ښه وخت تیرونه ده، نه د پیسو مصرفول او..... .

***

له یو چا سره حقیقي مینه؛ مینه لرل له سکوت سره ده. البته له رفتار سره نه له کلماتو سره. (کارلوس)

***

که چېرې نړۍ دې پر ضد ولاړه ده، ستا لپاره تر ټولو امن مکان لیوتتوب دی. (شوالیه. ت)

د اورښت پر مهال ځینې باران احساسوي او ځینې یوازې لمدیږي. (باب مارلي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښوونکې خبرې

هېڅ ځای ته به ونه رسيږي، هغوی چې زيات محتاط او محافظه کار دي، دوی ثابت پاتې کېږي، په اصل کې د پرمختک لپاره له هر څه مخکې زړه او جرات ته اړتيا ده. (کيوساکي)

***

د زړه ژړا، درد او فرياد تل د يو چا د نشتون له امله نه وي، ځينې وخت د هغه چا لپاره چې له تا سره يې حواس شتون ونه لري، راولاړيږي.

***

که هر څومره سرکش او مغروره انسان هم وي، خو چې ربښتيني مينه درسره ولري، له تا ځان قربانولی شي.

***

يوازې کوچني او کمزوري انسانان دي چې د خپلو اسلافو تاريخ ته د ريشخند او حقارت په سترګه ګوري.

***

ممکن د يو چا په ښکلا مئين شې، خو پام دې وي چې تر پايه بايد د هغې له سيرت سره ژوند وکړې، نه له صورت سره.

***

هغوی چې نړۍ ته يې ټکان ورکړ، په طبيعي استعدادونو کې نابغه نه و، خو د يو ممتاز صفت چې ثبات او مقاومت نوميږي، لرونکي وو.

***

ټول ښار ويده دی، خو زه ستا له فکره ويښ پاتې يم.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

تجربه یو مستعار نوم دی، چې پر خپلو تیروتنو یې ږدو. (اسکار وایلد)

***

د تیرې پیښې په اړه د ګرمیدو احساس او بیا د ورته راتلونکې پدیدې په اړه د اندیښنې احساس د ژوند تر ټولو بې ګټې احساسات دي.

***

خنده تل پاتې ده، تخیل ستر او وړوکی نه پېژني، خوبونه بې انتها دي. (والت.د)

***

کله نه کله یوازې یوه دعا بسنه کوي، چې بدلون او حرکت ته لار پرانیزي.

***

له هوا، اوبو او ډوډۍ سره ژوندی نه حسابیږي، پوه شوو او پوهیږو چې انسان د انسان لپاره دی او انسان د انسان د مینې له بابته ژوندی دی. (محمود دولت)

***

یو صادق سیاستوال د وچ سیند یا لرګي لرونکي تبر په څېر وي. (ستالین)

***

مهمه نه ده چې ژوند دې ښه یا بد، خو هره ورځ له یو مننوکي زړه سره راویښ شه او له دې چې ساه اخلې، له خدای (ج) څخه منندوی اوسه.

***

انسان باید خپل سرنوشت په خپله وټاکي، نه هغه چې ویې مني. (پائولو کوئیلو)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هيله بښوونکې خبرې

په تيارو کې له يو دوست سره قدم وهل، بهتر دي په رڼا کې له يوازې قدم ووهلو ځخه. (کلر)

***

کله کله انسانان پند او نصيحت ته اړتيا نه لري، کومو شيانو ته چې اړتيا لري لاسونه دي، چې ورکړل شي، غوږ دی چې خبرې يې واوريدل شي او زړه دی چې درک کړای شي.

***

د يو چا په فکر، دعا او زړه کې ياديدل د نړۍ تر ټولو ارزښتمن محلونه دي، چې انسان په کې حضور پيدا کوي.

***

يوازې هغه وخت چا ته ووايه چې (مينه درسره لرم) چې په واقعي ډول ورسره مينه ولرې؛ يوازې هغه وخت چا ته ووايه چې (زړه مې درته تنګ شوی) چې په ربښتيني ډول دې ورته زړه تنګ شوی وي؛ فقط هغه وخت چا ته ووايااست چې (غواړم له ته سره واوسم) چې په واقعي ډول ورسره اوسيدل غواړې. پام! چې په دې کلماتو سره دې د يو چا احساساتو سره لوبې ونه کړې. هر څه چې وايې بايد پرې اعتقاد ولرې.

***

انسان بدليږي
مينه زړه ماتوي
ملګری دې يوازې پريږدي
کار پای ته رسيږي
خو پام!
ژوند پاتې کيږي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

اند یښنه او زوریدنه د سبا غم نه شي کمولی، یوازې د نن خوښي درنه اخلي.

***

له ژونده مې زده کړل؛ هېڅ له هېچا بعید (پردي) نه دي.

***

هېڅکله د خپل احساس او عاطفې د تبارز لپاره عذر خواهي مه کاوه، پرېږده چې ستا د ستر زړه د لرلو یوه نښه واوسي، له نورو یې مه پټوه، البته د احساساتو څرګندتیا د قدرت نښه ده.

***

ناراحته یاست ؟ غمګین یاست ؟ د درد احساس کوې؟
اې ! زه یوازې د یوې دعا په اندازه له تا واټن لرم، له ما سره خبرې پیل کړه. (خدای (ج) )

***

هېڅکله مه تسلیمېږه ! معجزه هره ورځ پېښیږي، شاید سبا ته ستا ورځ وي.

***

انسان عجیب دی، په کوچنیتوب کې له نانزکې سره، چې باید لوبې ورسره وکړي زړه ورکوي، کله چې لوی شي له دې چې انسان ته زړه ورکړي، لوبې ورسره کوي.

***

ځینې وایي: ((ښه خلک پیداکړئ او بد خلک وشړئ.)) خو موږ باید داسې ووایو ((په خلکو کې ښه ولټوئ او بد یې له فکره وغورځوئ. )) هېڅوک کامل نه دی. کله چې خدای (ج) تا د سختو شرایطو په وړاندې دروي، په خپله هم د دغې حالت څخه د عبور او تیریدنې لپاره ستا لاس نیسي، ژوند سخت دی کله خوښي کله خفګان خو دغه لوړې ژورې موږ ته داسې درس را زده کوي، چې زموږ د قوي کېدو علت ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

وېوهېږه چې یو بوخت ژوند هېڅکله بې حاصله نه دی. (سکرات)

***

تل حقیقت ووایاست، حتی که غږ دې لړزیږي هم.

***

په یوه حقیقي رابطه کې واټن، عمر او خبرې بې ارزښته دي، هغه چې اهمیت لري اعتماد او وفاداري ده.

***

یوې میرمنې ته مه وایه چې په کور کې وې څه دې کړي؟ ژور فکر وکړه او ټول کتونکی واوسه، هغې که هېڅ هم نه وي کړي، په کور کې یې ستا هیله ژوندۍ ساتلې ده.

***

تل له مور سره مینه وپالئ، ځکه چې بیا به د هغې په څېر څوک ونه مومئ.

***

مخکې له دې چې زما د تېر ژوند او شخصیت په هکله قضاوت وکړې، زما پر ځای خپل ځان فرض کړه، له هغو لارو چې تېر شوی یم، تېر شه، له دردونو، کړاوونو او خندا سره مې ژوند وکړه، خو په یاد ولره ! هر انسان تېریدونکی دی، هر کله دې چې زما پر ځای ژوند وکړ، هغه وخت بیا کولای شې زما په اړه قضاوت وکړې.

***

څو کاله وروسته
له دې نړۍ رخصتیږې
څوک به په یاد رانه وړي
چې څومره مالداره او ښکلی وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

مګر په یاد کې به پاتې شي چې
په زړونو او ذهنونو کې دې څه تاثیر پرېښود

***

کله کله باید له ځانه د یوازېتوب دیوال راتاوو کړو، د دې لپاره نه چې نور له ځانه لرې کړو، د دې لپاره چې وګورو څوک زموږ د لېدنې لپاره دیوال سوری کوي. (ژان پل سارتر)

***

هغه انسان نه شي بریالی کیدی چې د مغز او زړه تر منځ تعادل ونه ساتي.

***

نیوکه، که چېرې ناسالمه وه پروا یې مه لره، که له عدل او انصاف څخه خالي وه مه غوسه کېږه، که چېرې د جهالت له رویه وه ورته وخانده! که عادلانه وه بیا نو له هغې درس واخله.

***

هڅه مه کوه چې یو څوک خپل لوري ته را نږدې کړې، که قدر دې ونه پېژني دا په دې مانا چې ستا لیاقت نه لري. خپل ځان ته د احترام په سترګه وګوره او له هغې چا سره واوسه چې په رښتیني ډول تا ته په ارزښت قائل وي.

***

تل پر هغه چې دروغ درته وایي، اعتماد مه کاوه او برعکس څوک چې په تا اعتماد لري، دروغ ورته مه وایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

که ټوله شپه د لمر په افسوس وژاړې، یوازې ځان به د ستورو د لیدو له خوښۍ محروم کړې او بس!

اې لوی څښتنه! ما وبښه ډیرې دروازې مې وټکولې، خو ستا کور نه و.

***

کله چې ژور لویږم، خدای زما هیله ده؛ کله چې تیارو کې ډوب شم، خدای زموږ رڼا ده، کله که ضعیف شم، خدای زموږ قوت دی او کله چې غمګین یم خدای زما هوساینه ده.

***

قوي واوسه البته ګستاخ نه
مهربان اوسه خو ضعیف نه
زړور اوسه خو ظالم نه
مغرور اوسه خو ځان غوښتونکی نه

***

تاسو وایاست: وخت تیریږي. داسې نه ده، افسوس چې وخت پاتې کیږي او موږ ځو.

***

که د ځمکې د کورې تر ټولو بهترین شخص هم یاست، مغرور مه واسه!

***

زه د سختو کارونو لپاره تل تنبل کسان ګمارم، ځکه چې هغوی یې د حل لپاره تر ټولو اسانه لره پیداکوي. (بېل ګیټس)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

چتر!

نشو کولی د باران د څاڅکو د اوریدو مخه ونیسو، خو له بابته یې کولی شو تر څو د باران لاندې ودریږو. په ځان اعتماد ممکن بریا رانه وړي، خو موږ ته قدرت رابښي او را زده کوي چې څنګه د ستونزو پر وړاندې ودریږو.

***

بښل!

بښل په دوه ډوله دي؛ لومړی دا چې هغې ته بیا ځلې موقعه ورکوې او یا یې پرته خپلې لارې ته ادامه ورکوې. باید چې د دې دواړو په ټاکلو کې دقیق او ځیرک اوسې.

***

کله مو چې درک کړه یو چا له تا مخ وړاوه او نور دې له ژوند سره اړیکه نه لري، باید زده کړو او د ژوند مسیر بېل کړو او په یوازې ډول خپلې لارې ته ادامه ورکړو.

***

نیکمرغي! نیمکرغي دا نه ده چې ستونزې ونه لرې، بلکې دا ده چې د ستونزو په وړاندې توانایي له ځان وښیې.

***

زده کړه! هر چا چې له زده کړې لاس واخیست زوړ دی، څه چې شل کلن وي یا اتیا کلن، خو دا د زمانې تر ټولو منل شوی حقیقت دی چې که څوک زده کړې ته ادامه ورکوي، ځوان دی او بیا هم ځوان.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

پوهه ! خپله پوهه په جهل او یقین مو په شک مه بدلوئ، کله چې پوهه ترلاسه کوئ، عمل پرې وکړئ او کله چې یقین ترلاسه کوئ، اقدام وکړئ. (علی رض)

***

د ژوند په سختو ورځو کې د واقعي څېرې لیدنه ډېره غمجنه وي، هغه چې ستا لپاره په ژوند کې ډېرمهم وي او بیا ستا د فکر خلاف بل څوک راووځي.

***

ایمان ! د ایمان د ازمېښت مهال هغه دی چې یو څه غواړې، خو لاسته یې رانه وړې او په دې حال سره ووایې: یا رب شکر !

***

د ژوند غمګینې شیبې به له هغه چا تجربه کړې، چې د ژوند خوږې شیبې دې له هغه سره تیرې کړې وي. (ویلیام شکسپیر)

***

له کوچنیوالي راته پلار او ښوونکي ویل :

خیانت نفرت اچوونکی ځیز دی، خو بیا هم خیانت کول څه دي؟ خیانت، بهر کیدل او د یو نامعلوم لوري په طرف تلل دي. (میلان کوندرا)

***

فقر ! له لوږې د یوې شپې سبا کول فقر نه دی، بلکې پرته له فکره د یوې ورځې تیریدنه ژور فقر او تنګلاسي ده. (علي شریعتي)

***

یووالی ! کله چې یو ځای یو، داسې غر به وجود ونه لري چې سر ته یې پورته نشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

نړۍ! له دې چې دا نړۍ به په (۲۰۱۲) م کې پای ته ورسیږي نه ډاریږم، خو له دې ډاریږم چې دا نړۍ به پرته له هېڅ تغیره ادامه ومومي.

د یوې بلې ورځې لپاره راوینښېدل یو نعمت دی، هغه په کمه مه حسابوه قدر یې وکړه، خوښ اوسه له دې چې ژوندی یې.

***

اندېښنه! ولې د هغه څه په اړه چې تغیر نه موندوونکي دي اندېښنه کوې؟ هېر یې کړه، مخته لاړ شه، ځکه چې ژوند ستا لپاره انتظار نه شي پاتې کېدلی.

***

که نه پوهېږې، له ما وپښته!
که نشې یې منلی، له ما سره بحث وکړه!
که راسره مینه نه لرې، ما ته ووایه!
خو پام چې زما په اړه هېڅکله هم!
یوازې قاضي ته ولاړ نه شې!

***

مهمه نه ده چې څومره وخت غواړي، رېښتیني مینه تل د انتظار ارزښت لري.

***

اې لوی څښتنه! له تا شکر گزاریم د هغو شپو لپاره چې سبا شولې، دوستان چې په خپلوانو بدل شول او خوبونه چې له حقیقت سره یوځای شول.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

څوک چې ترټولو ښه نصحیت وایي، هغوی هغه څوک دي چې د ژوند تر ټولو بد شرایط یې تجربه کړې دي.

***

فریاد ! فریاد هر څوک اوري، خو د چوپتیا د اوریدلو هنر هر څوک نه لري.

اې مهربانه زړه ! ته په هر څه کې له مداخلې ډډه وکړه، ستا دنده د وینې پمپ کول دي او بس !

***

هر هغه څه چې د انسان برخلیک ټاکي، د هغه استعداد نه بلکې انتخاب دی. ټولنه چې فقر ته اوږه ورکړي، دین چې دوزخ ولري او هېواد چې ستم وکړي بې هنره دي. زه ټولنه پرته له شاه، دین پرته له تحمیل او هېواد پرته له سرحده غواړم.

***

زه بېنوا یم او همدا دلیل و چې د بنیوایان اثر مې ولیکه. (ویکتور هوګو)

***

زه په هېچا باور نه لرم، حتا په ځان هم. (جوزف سټالین)

***

اوښکې ! د اوښکو پاکولو پر ځای مو، هغه څوک پاک کړئ چې د ژړا او درد باعث مو ګرځي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

ځینې وخت اړتیا لرو یو څوک مو په څنګ کې واوسي ... د دې لپاره نه چې مرسته وکړي، یا بل کوم خاص کار ترسره کړي، بلکې د دې لپاره چې احساس کړو یو څوک مو په څنګ کې دي او موږ ته اهمیت راکوي.

***

خپلواکي ! له هغو ازادي اخېستل چې نه غواړي غلام پاتې شي ستونزمن دي، خو برعکس هغو ته ازادي ورکول چې غواړي غلام پاتې شي، ډېر ستونزمن. (مارتین کینګ)

ممکن یو څوک ستا په اړه هېڅکله هم خپل دروني احساس څرګند نه کړي، خو رفتار یې په خپله ژبه درته وايي، البته که لږ دقت وکړې !

***

هغه (۹۷) فیصده موارد چې ته یې په اړه اندېښنه کوې، هېڅکله هم نه پېښېږي.

***

هېڅکله له یو چا سره له حده زیاته شوخي مه کوه، حرمت ته دې دروند زیان اړول کېږي او هېڅکله له حده ډېر له یو چا سره ښه مه کوه چې بیا دې دنده جوړېږي.

***

ژاړه ! ژاړه د یو انسان د ضعف نښه نه ده، البته د زېږېدنې له وخته دا یوه نښه ده چې تاسو ژوندي یاست.

***

کله چې چا وویل: زه پرته له تا ژوند نشم کولی، مانا دا چې ستا د نه شتون په اړه یې فکر کړی.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هيله بښوونکې خبرې

خوبونه ! هېڅکله د خپلو خوبونو د رښتيا کولو په لار کې ماتې مه منئ.

***

درد ! يعني زړه دې ورته تنګ شوی، خو نشې کولی غلطي ترسره کړې.

***

د يو چا د توجه د اړولو لپاره تر ټولو غور لاره، د هغه له فکره ايستل دي.

***

هغه انسان چې په ظاهر سکوت او خاموش واوسئ، د درون فرياد يې له نورو څو چنده قوي دی.

يو واقعي افسوس به هغه ورځ واورئ چې وګورئ، د خپل عمر په اندازه مو ژوند ونه کړی شو.

***

نيکمرغه هغه څوک دی چې د نورو د فضيلت قدر او له نيکمرغيو د خوښۍ احساس وکړي. (ګويته)

***

هېڅ شی او هېڅوک په دې نړۍ کې د دې حق نه لري، چې حتا د يوې نجلۍ د ښو نوکونه لوځ کړي... اې نجلۍ! پرېږده جسم دې د هغه چا مال وګرځي، چې حاضر دی خپل روح ستا لپاره قرباني کړي. (چارلي چاپلين)

***

هېڅکله د يو څو وړو تېروتنو پر سر يوه رښتينې اړيکه مه پرېکوه، هېڅوک له عيبه خالي نه دي او هېڅوک په کامله توګه ښه څه ويلي نه شي. پام چې مهرباني له هر څه لويه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

خدای پوهېږي چې څوک دې له ژوند سره اړیکه پیدا کوي او څوک نه، باور وکړه او هر څوک که غواړي پاتې شي، تل هم پاتې کېدی شي.

***

په انسان کې د عقلیت نښه هغه وخت ځلېږي، چې کله تاسو یو څوک ازارکړي او ته یې د متقابل ځواب په وړاندې د هغه شرایط درک کړې.

***

ژوند ؛ ژوند یوازې یوه شیبه ده او مور د سترګې په یو رپ کې اوسیږو.

***

د نظر اختلاف سبب دا دی چې هر څوک د یوې موضوع په هکله فکر د خپل دید له زاویې راوباسي او بل ته ارزښت نه ورکوي.

***

د یوې ښې اړیکې لپاره پنځه اصول

1. باید وفادار پاتې شې.
2. مینه او هیله مندي مو څرګنده کړئ.
3. خپل ملګري ته درناوی ولرئ.
4. د یو چا سپکاوی ونه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

5.

د یو بل لیدلو لپاره وخت وټاکئ.

***

یوه ورځ به یو داسې څوک بیاموم‌ې چې تېر مو ورته هېڅ ارزښت ونه لري، ځکه چې هغه غواړي ستاسې راتلونکی شي.

***

مینه او حقیقت ! څوک چې وایي مینه درسره لرم باور پرې مه کوه، خو که څوک د مینې لرلو د ځرګندلو هڅه کوي باور پرې وکړه. همدا رښتینې مینه ده.

***

که چېرې یو چا ستا د خوښۍ لپاره هر کار کاوه هغې ته ځانګړې پاملرنه وکړه، تر څو چې مو په دې ډول د خپلو خوږو دوستانو قدر پېژندلی وي.

***

یوه خوږه ترانه کولی شي یوې شیبې ته تغیر ورکړي، یوه ایډیا کولی چې نړۍ بدله کړي، یو ګام کولی شي لوی سفر پیل کړي، خو یوه دعا کولی شي ناممکن ممکن کړي.

***

زوی له مور وپوښتل: مورې ! څنګه به وکولی شم یوه تکړه او بااستعداه مېرمن پیدا کړم؟ مور یې ځواب ورکړ، د لایقې مېرمنې د پیدا کولو هڅه مه کاوه، د لایق مقام د پیدا کېدو په فکر کې اوسه.

***

تېروتنه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

حتی تر ټولو پوه، عالم، مشهور او دینداره ځوک هم تېروتنه کوي، انتقاد له هېڅ ممنوع نه دی.

***

هېڅ مو په ښه ډول نه دي زده کړي، چې ونشو کولی خپلې انا ته یې توضیح کړی شو. (انیشټین)

***

داسې ځوک بیامومئ چې له ښکولو مو سترې نه شي، کله چې د نا ارامۍ احساس کوئ په غیږ کې مو ونیسي، که عصباني یاست تا درک کړای شي او کله چې وپوهېږي حالت مو ښه نه دی، لاسونه درکړي او راتلونکی له تا سره وګنډي. کله مو چې داسې یو ځوک پیدا کړل، پام چې له لاسه یې ور نه کړئ.

***

درې طلایي اصول:

ځوک دې چې لاس نیسي، مه یې هېروه !<br>
ځوک چې مینه درسره لري، کینه ورسره مه کوه !<br>
چا چې باور دربانديې کړی، خیانت ورسره مه کوه !

***

له دې چې له یو چا سره د نیکمرغۍ احساس وکړې، غوره لاره دا ده چې زده کړې ځنګه له یوازېتوب سره نیکمرغه واوسې. په دې ډول به د نورو شتون یوازې یو انتخاب وي، نه یو ضرورت.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

هېڅ موانع نشي کولی ستا د لارې خنډ وګرځي، نه ستونزې او نه هم انسانان. تنها یو څوک چې تاسو له بریا راګرځوي، هغه تاسو په خپله یاست.

***

کله چې انسانانو ته یوازې د اړتیا پر مهال وریادېږې مه خپه کېږه ! ګوره چې څنګه په تیارو کې د یوې شمع په څېر ذهنونو ته رڼا وربښې.

***

په یو څه کې د بدلون د نه پېښېدو لپاره اړ نه یاست چې د اندېښنې او خفګان لار ونیسئ، وړاندې لاړ شئ او قوت ترلاسه کړئ !

***

انسانان یوازې پاتې کېږي، ځکه چې د پلونو پر ځای یې دیوالونه جوړ کړي دي. (جوزیف)

***

پرته له خبرو اړیکه وجود نه لري، له درناوي علاوه مینه مینه نه ده او له باور پرته د ادامې لپاره کوم دلیل وجود نه لري.

د نیکمرغۍ مانا دا نه ده چې ټول شیان ولرې، بلکې دا چې د هغه څه لپاره چې لرې یې شکر اوباسې.

***

څوک چې له تا سره حسد او کینه لري، د هغې درناوی وکړه. دوی هغه څوک دي چې د زړه له کومې اعتقاد لري چې تاسو له هغه بهتر یاست.

***

خپل څنګ مو یوازې د هغو پر مخ پرانېزئ، چې تاسو یې لوړو پوړو ته ورسولئ. (جک)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښوونکې خبرې

***

مهمه نه ده چې ژوند مو چېرې قرار لري، مهمه دا ده چې څوک له ځان سره یوځای لرئ.

***

اړتیا نه لرې چې لوی کارونه وکړې، همدا چې دا کوچني کارونه په مینه ترسره کوې، کافي ده.

***

په ژوند کې مو دا څو خبرې تل یادې ساتئ !

لومړی دا چې کور یو مکان نه بلکې احساس دی، دویمه دا چې زمان له شیبو حسابیږي، نه له دیوالي ساعت څخه او درېیم دا چې په زړه کې ماتې نه اوریدل کېږي بلکې حس کېږي.

***

که غواړې لوی مقام تر لاسه کړې، د نور له ښو کردارونو ستاینه وکړه.

***

نورو ته ښېنه وکړه ! د دې لپاره نه چې دوی د ښېنې وړ نه دي، بلکې د دې لپاره چې تاسو د ارامتیا وړ یاست.

***

پلار !

پلار مې چې لاړ، ښار راته یوازې شو. پلاره ! مګر ته څو نفره وې ؟

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

کله کله باید د پرمختګ لپاره سختې وګالو، کله باید د پوهیدلو لپاره ماتې وخورو، کله باید د یو څه د لاسته راوړلو لپاره یو څه له لاسه ورکړو، ځکه چې ځینې درسونه په ژوند کې یوازې د درد او سختۍ له درکه زده کېږي.

***

ایا پوهېږئ ؟ د ژوند تر ټولو ښه برخه کومه ده ؟ ساده ده، کله چې ستا کورنۍ تا د یو ملګري په څېر درک کړي او ملګري دې لکه د کورنۍ په څېر ملاتړ وکړي.

***

له هرې ستونزې سره ژبه پیدا کړه، تېښته مه کوه، پوهېږې ؟ ځمکه په احمقانه ډول ګرده ده.

***

هر څوک حق لري چې ستا له فکر او عمل څخه متفاوت واوسي، نو په دې سبب باید د یو بل عقایدو ته پوره درناوی ولرو.

***

مثبت فکر، روزنه، تمرین، د صحي ډوډۍ خوارک، سخت کار، قوي اوسېدل، کمه اندېښنه، زیاته مطالعه، خوښ اوسیدل او د رتلونکي لپاره هیله مندي د ډېر عمر سبب ګرځي.

***

منفي فکر په ډېرې اسانۍ سره موږ په زنځیر باندې تړي، د خوښ ژوند له درلودلو مو محروموي، په داسې حال چې خدای موږ خوښ او ازاد پیداکړي یوو، نو صبر غوره کړه او ځان له دې زنځیر څخه د تل لپاره ازاد کړه.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

ځینې وخت باید دوه نفر فاصله ونیسي، تر څو وپوهیږي له یو بل سره د یوځای کېدنې لپاره څومره اړتیا ده.

***

پوهېږې ؟ زړه مې داسې یو څوک غواړي چې نه له تللو سره بلدتیا ولري او نه هم له خیانت سره.

***

هېڅکله مو خپل وفادار ملګری هغې مقام ته مه رسوئ، چې نور ستا په واړندې ورته علاقه پاتې نه شي.

***

نن له خدای (ج) ډېر منندوی یم چې له زړه مې اګاه دی، نور ممکن زما د ښه نیت له وجهې غلت پوه شوي وي، البته زما د کردار او رفتار په هکله به ناوړه قضاوت وکړي، غیبت به ووايي او ما به ورتيي. خو هغه لوی څښتن مې له درون څخه ډېر ښه خبر دی، هغه پوهیږي چې د هغه څه په باب فکر لرم او کوښښ کوم، تر څو هغه چې خدای غوښتل بدل شم.

***

دښمني او تخت د عاقل او هوښیار سړی لپاره د ژوند کولو انګیزه رامنځته کوي.

انتظار ګران دی، هېرول هم سخت دي، خو دا چې ونه پوهېږې څنګه باید انتظار وکړې یا یې هېر کړی شې، ترټولو سخت دي. (کوتلیو)

***

هغه څه چې لرې یې قدر یې وپېژنه، مخکې له دې چې وخت یې تا ته قدر در وپېژني.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

له باز یې وپوښتل: ایا له لوېدو وېره نه لرې؟ باز وخندل او ویې ویل: زه انسان نه یم چې د پورته کېدنې سره غرور او تکبر پیدا کړم، زه تل د اسمان له لوړو څنډو د ځمکې تل ګورم.

***

پوهېږئ! هغه میخونه په دیوال کې کلک او محکم پاتې کېږي، چې سختې او قوي ضربې یې زغملې وي.

***

خپل پلان ته تغیر ورکړه، خو هدف ته نه.

***

له موسیقۍ پرته ژوند یوه تېروتنه ده. (فردریش نیچه)

***

کتاب! کوم ملت چې کتاب نه وایي، باید ټول تاریخ تجربه کړي.

***

ازادي یوازې زموږ لپاره نه ده، دلته نور ژوي هم ازادۍ ته اړتیا لري.

***

هر حماقت زړورتیا او بې باکي نه ده.

***

د ورځې په پای کې په ارامه توګه ځان ته ووایه: مینه درسره لرم، نن دې ټوله هڅه وکړه او هر هغه څه دې چې په فکر کې لرل ترسره دې نه کړی شول. بیا هم درسره مینه لرم.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

که چېرې وپوهیږو فکرونه مو څومره قوي دي، حتی د یوې شیبې لپاره به هم منفي فکر ونه کړو.

***

زه له ساده شیانو سره مینه لرم، لکه: کتابونه، یوازې توب او یا له هغه چا سره پاتې کېدل چې تا درک کولی شي.

***

له هر انسان څخه د هغه د شعور په اندازه انتظار ولره، حد اقل په دې ډول به لږ درد ېږې.

***

باید هېر نه کړو چې مورې هر یو په فرد پورې منحصر شوي یو.

***

د اولاد لپاره د مور او پلار بهترینه ډالۍ انسانیت او ادب ده.

***

بد اخلاق د سوري شوي ټایر مانا لري، تر څو یې چې بدل نه کړې، نشې کولی چې بل ځای ته یې یوسې.

***

له افکارو پرته، نور هېڅ زموږ په اراده کې نه دي. (دکارت)

***

که د خره غوندې قوي اوسې بار دباندې ترې، که د اس غوندې تیز رفتار اوسې دباندې سپرېږې. یوازې ستا له پوهېدلو ویره لري. (علي شریعتي)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د يوې نوې تازه ورځې په رارسيدو نوی قوت او نوې افکار هم رارسيږي.

***

د نړۍ تر ټولو وېروونکی بشر هغه دی، چې پوهېدنه يې کمه او ادعا يې ډېره وي. (چخوف)

***

سترګې ! سترګې بې ګټې دي، که ذهن ړوند وي.

***

لومړيتوب ورکوم چې هر ډول انسان واوسم، خو احمق نه !

***

افکار مو مه پټوئ، خوبونه مو په رښتيا بدل کړئ. (باب مارلی)

***

له بدو پېښو منندوی واوسئ ! ځکه چې سترګې مو د هغه څه پر وړاندې چې مخکې مو نه ليدل، خلاصې شوې.

***

مغز لرل، د انسان لپاره يو قطعي دليل نه شي کيدی، پسته او بادام هم مغز لري، خو د انسان لپاره شعور مهم دی.

***

که ټول ګلان له ښاخونه پرې هم کړې، نشې کولی د پسرلي د راتګ مخنيوی وکړې.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د نړۍ ستونزه دا ده چې احمقان کاملاً په ځان باور لري، خو هوښیاران او پوه خلک بیا له شک او تردید څخه ډک دي. (راسل)

***

مهرباني د ټولو انسانانو په درون کې یوه سپیڅلې ډالۍ ده.

***

د زړو جامو په لرلو مه حجالت کېږه، خو د زړو افکارو په لرلو شرمنده اوسه! (انشتین)

***

تېر که هر څه و، مهم نه و. اوس که هر څومره وځغلې، تېر به بېرته را ونه ګرځي.

***

په ژوند کې مې لار ساده ده، له ما سره ښه رفتار وکړه او زه به له تا سره ښه رفتار وکړم.

***

موسیقي له فلسفې څخه څوګامه وړاندې ده. (لودویګ فان)

***

که د راونو اوبو په منځ کې تیرې شتون ونه لري، د اوبو غږ به ښکلا تر لاسه نه کړي.

***

ژوند د انځورګرۍ د هنر په څېر دی، له پنسل پاک څخه استفاده ترسره نه شي. نو داسې ژوند وکړئ کله چې تېر ته ستنیدل غواړئ، باید پنسل پاک ته اړتیا ونه لرئ.

***

سختې ورځې تل پاتې نه وي، نو ولې انسانان باید دایمي سختوالی ومني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښښوونکې خبرې

***

تل ښه وکړه، خیر که چا دې ښه هېر کړې وي.

***

د انسان لپاره تر ټولو لویه بدمرغي دا ده چې نه د ویل لپاره کافي سواد لري او نه د ارام پاتې کیدو لپاره شعور. (ژان دلابرویه)

***

درې شیان ښکلې دي: هغه چې بې خبره درته دعا وکړي ته یې ونه وینې، هغه دې ژور ووینې او پوه نه شې او هغه دې یاد کړي ته یې احساس کړې.

***

ادم یو دی، خو انسان یو کیدوونکی. (علي شریعتي)

***

کمزوری انسان غېږ اخلي، قوي یې ښښنه کوي او باهوشه یې پټوي. (انشټین)

***

له دې مه ویرېږه چې سست حرکت کوې، له دې وویرېږه چې تراوسه دې حرکت نه دی پیل کړی.

***

ژوند لوړې ژورې لري، په لوړو کې باید خوند واخلو او په ژورو کې زړور او قوي واوسو.

***

په هر چا یا څه چې باور او یقین لرې ودرېږه، حتا که چېرې د یوازې ودریدنې په مانا هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

انسان له زړښته نه مري، بلکې له هغه څه مري چې نور ورته ارزښت ونه لري.

***

افکار زموږ د احساساتو تور سیوری دی، تل تور، پوچ او ساده. (فردریش نیچه)

***

موږ ممکن هېڅکله دومره قوي ونه اوسو چې په کامله توګه په افکارو، خبرو او اعمالو کې له عدم تشدد څخه کار واخلو، خو عدم تشدد باید د یو هدف په توګه ومنو او په لوري یې حرکت پیل کړو.

***

ما په داسې قبیله کې ژوند کوه چې د سړي او سړیتوب کلمات مې په غوږ کې و، بیا مې په داسې ښار کې ژوند پیل کړ، چې ملګري مې نامرده وو او سړیتوب یې هم نه لره. (نیما)

***

له ماشومانو سره د لوبو پر مهال پرېږدئ چې دوی بریالي شي.

***

د ټرلو فکرونو ستونزه دا ده چې خوله یې تل خلاصه وي.

***

له قید او شرطه پرته مینه وکړئ، له کینې او غرضه پرته خبرې وکړئ، بې دلیله ښښنه ومنئ او له طمعې پرته له انسانانو سره محبت وپالئ.

***

د هېواد په لاره کې قرباني د سترو خلکو خوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

وخت !

وخت بې بیې، خو قیمتي دی. بیا یې څښتن نه شې کیدلی، خو ترې ګټه اخیستلی شې. ساتلی یې هم نه شې خو لګولی یې شې. کله دې چې له لاسه ورکړ هېڅکله به ونه توانیږې چې هغه راوګرځوې.

***

هېڅ نوع دوا د اندېښنې، وسواس او اضطراب په درملنه کې دومره ښه پایله نه لري، لکه څلویښت دقیقې تمرین.

***

له کوچنۍ مرستې هم دریغ مه کوه، ممکن د جنت کیلي واوسي.

***

عدم تشدد هغه دی چې موږ هغه څوک دوستان وګڼو چې له موږ نفرت لري. موږ پوهیږو چې له دغې لوی قانون سره مینه څومره سخته ده، خو د ټولو لویو کارونو ترسره کول سخت نه وي؟ (ماهتما ګاندي)

***

ادولف هیټلر یو خطرناک انسان دی، هر څه چې وایي پرې اعتقاد لري.

ټول لوی افکار د قدم وهلو له لارې د ذهن په زړه کې کیني. (فردریش نیچه)

***

هغه محدودیتونه چې د زاړو او منفي افکارو محصول دي، له ځانه لرې کوو او په خوښۍ سره د راتلونکي ننداره کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

له ازادۍ پرته ژوند د شرم وړ دی.

***

مهرباني یعنې مور.

***

د یو دښمن ښېښل د یو ملګري له ښښلو ډېر اسانه دی.

***

کله نا کله شاته تګ زموږ او د نورو د ژغورنې باعث ګرځي.

***

اې لوی څښتنه ! تا ته محتاج یم، هره ورځ، هره شیبه، هره ثانیه چې ساه اوباسم، تا ته محتاج یم. پرته له تا ناتوانه یم.

***

سخت د غیر ممکن په مانا نه دی، مفهوم یې دا دی چې پر وړاندې یې سخت کوښښ ترسره شي.

***

ځینې انسانان د وریځو په شان دي، کله چې فنا کېږي ورځ مو لا رڼایي ترلاسه کوي.

***

سکوت هغه استدلال دی، چې یوه بله مانا له ځان سره لېږدوي. (چې ګوارا)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

خوښي حماقت نه بلکې د انسان د روان لپاره یوه اړتیا ده.

***

پلاره ! هڅه وکړه چې د اولادونو لپاره یو ښه معلم واوسې.

***

د ژوند راز په دې کې نغښتی، چې مهربان او ښوونکی واوسې.

***

زه له هغه چا چې له ما کرکه لري، د کرکې کولو لپاره وخت نه لرم، ځکه چې زه د هغه چا په فکر کې یم چې له ما سره مینه پالي.

***

هېڅ شی په واقعي ډول له کاره نه لویږي، حتی ساعت چې ستونزه ولري یوه ورځ به دوباره دقیقه نېټه په ګوته کړی شي.

***

د انسانانو د پېژندلو لپاره کافي ده چې یو واري د هغوی د میل خلاف فعل تر سره کړئ.

***

زړه وړونکي انځورونه ستا د ښکلا لپاره دلیل نه شي جوړیدلی، درون دې ښکلی کړه چې

د هېڅ راز عکاسی مدیون ونه اوسي. (خسرو)

***

ملګری !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

کله چې یوازې یو ملګری غواړو؛ چې پیدا مو کړ عیب یې لټوو؛ چې له لاسه مو ورکړ بیا یې په یوازیتوب کې د خاطرو مېلمه کېږو. د زړونو پام مو ساتئ! هېڅ له زړه پرته اسان نه ماتیږي. (ژان پل سارتر)

***

ښه دا ده چې پر ځان غلبه وکړې، د دې لپاره چې زرګونه جګړې فتحې کړې. په دې ډول به بریا ستا په برخه وي او هېڅوک به یې له تا څخه وانه شي اخیستلی. (بودا)

***

کله چې خپل عظمت بیامومې، متوجې کېږې چې د ژوند هره شېبه مو ځواب ویونکې ده.

***

څوک چې د نورو پر احساساتو ریشخند وهي، جنایت کوونکي دي.

***

خبریدنه، خپلواکۍ ته د رسیدو لپاره یوازینۍ لار ده.

***

د ښکلې ژوند لپاره ژوند نه کول د عمر لنډون مه بهانه کوه، عمر لنډ نه دی موږ لنډون کوو.

***

ښه انسان واوسه، خو وخت دې نورو ته د اثبات لپاره مه برباد وه.

انسان چې غرق شو په یقیني ډول ځان د مرګ غیږې ته سپاري، که څه هم په دریاب، خوب، دروغ، ګناه ،خوښي، حسد، بخل او انتقام کې وي. پام چې غرق نشې! انسانیت په خپله یو ځانګړی دین دی، چې چندان پیروان نه لري. (ماهتما ګاندي)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښووونکې خبرې

ښځه ! ښځه د چای په څېر کیسه لري، تر هغه چې په ګرمو اوبو که وانه اچول شي، نه شې کیدلی چې وپوهېږې څومره قوي ده. ( روزلت)

***

تول له دې اند ېښمن دي چې ماشومان یې خبرو ته غوږ نه ږدي، خو مهمه اند ېښنه دا ده چې ماشومان تل ستاسو له لیدلو ډېر څه زده کوي.

***

یوازې څه ته چې اړتیا لرو سفر دی، هغه ځای ته چې مینه ورسره لرو، تر څو له هر چا او هر څه لرې او ارام واوسو.

***

هر څومره چې انسانان ژور وپېژنې، یوازیتوب دې ډېر ملګری کېږي.

***

هره پوهنه د فلسفې تر سرلیک لاندې پیل او د هنر تر عنوان لاندې پای مومي. (و. دورانت)

***

واده وکړئ ! که ښکلې میرمن مو لاس ته راغله، نیکمرغه کېږئ او که له بدې ښځې سره مو سر شو، یو لوی فیلسوف به شئ. (سقراط)

***

سخت کار مه کوئ، هوښیارانه کار وکړئ.

***

بهترین ښوونکی ستا اخیرنۍ تېروتنه ده.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د لوی والي زیان تنهايي ده.

***

کله چې پنځه کلن وم، مور مې تل ما ته ویل چې خوښي د ژوند کیلي ده. کله به چې ښوونځي ته تلم نو له ما به پوښتل کېدل: چې لوی شې څه جوړیدل غواړې ؟ ما به ویل چې خوښ. دوی به ویل چې تا درس نه دی زده کړی، خو ما دوی ته وویل چې تاسو ژوند نه دی زده کړی چې ژوند یعنې څه مانا؟ (جان لینوون)

***

له هغه انسانه چې د غم په طالب ګرځي، باید وډار شو.

***

انسان له ژړا سره یو ځای نړی، ته راځي، کله چې په کافي اندازه وژاړي له نړی، بېرته ځي، همدا د ژوند حقیقت دی. (اګیرو)

***

هغوي چې سختې ورځې یې ازمایلي، تر ټولو ښه راتلونکی جوړوي.

***

که وخت نه لرې له ماسره خبرې وکړې، ما ووینې او زما د حال پوښتنه وکړې، زه تا درک کولی شم خو که چېرې دا ځل زه درسره مینه ونه لرم نو ستا وار دی چې ما درک کړې.

بدلون !

د بدلون رمز او راز دا دی چې ټوله انرژي دې له تېرو سره د مبارزې پر ځای راتلونکي جوړونې ته وقف کړې.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د بدن سلامتیا او ساتنه یوه دنده ده، له دې علاوه به قادر ونه اوسو چې قوي او شفاف ذهن ولرو.

***

مخکې له دې چې پر تیارو باندې لعنت ووایو، ښه به دا وي چې شمعې روښانه کړو.

***

تر ټولو بې خونده ورځې هغه دي چې په هغې کې مو نه وي خندلي.

***

قوي انسانان هغه نه دي چې تل بریالي کېږي، بلکې هغه دي چې له ماتې او بایللو وروسته هم نه تسلیمېږي.

***

د عمر اوږدولی په ښېګڼلو او مهربانۍ کې دی.

***

کله ناکله موږ ژورو ته لوېږو، هلته یو څه شتون لري، چې موږ یې باید بیامومو.

***

هېڅکله باید دا درې شیان قرباني نه کړې، لومړی کورنۍ، دویم احساسات او درېیم غوسه.

***

نړۍ له ښو خلکو ډکه ده، ولې که ونه توانیدې چې له هغې یو نفر هم پیدا کړې، حد اقل په خپله ښه اوسه. (چارلي چاپلین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

هېڅکله هم د یو شي د ترلاسه کولو څخه لاس مه اخلئ، پوهیږو چې صبر گران دی، خو افسوس له هغې هم ډېر گران دی.

***

هره ورځ چې را درومي، دا تاسو پرېکړه کوئ چې څنگه دې تېره شي.

***

هر څومره چې ښکلې کلمات ووایې، یا ښکلې خبرې وکړې، خو چې عمل ورسره نه وي بې مانا ده. (بودا)

***

یواځینی څوک چې زما هره گناه ببښي، زما مور ده.

***

د نیکمرغۍ یوه لویه نمونه، خلکو ته خدمت او کار کول دي.

***

فلسفه !

فلسفه په ښه ډول د یو چا له کلماتو نه، بلکې د هغه له انتخابه مالومیږي. (روزولت)

څلور کلمې په ژوند کې شتون لري، پرته له هغې هېڅ نه لري. لومړی مینه، دویم صداقت، درېیم حقیقت او څلورم درناوی.

***

د خوښۍ راز د ساده شیانو څخه په خوند اخېستلو کې نغښتی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

که چېرې پوهیدای شوی چې فکرونه څومره قدرتمند دي، هېڅکله به مو حتی یو وار هم منفي فکر نه وای کړی.

***

د ځان د اداره کولو لپاره له مغز او د نورو د اداره کولو لپاره له زړه څخه کار واخله. (لاما)

***

هغه دوستان چې لرې او ازمایل شوي دي، په فولادي قلبونو سره يې له زړه او بدن سره وتړه. (شکسپیر)

***

له انسانیت سره مینه، د یو انسان سره له مینې غوره او بهتره ده.

***

زما تر ټولو ښه ملګری هغه دی، کله چې ژاړم هغه نه خاندي. (چارلي چاپلین)

***

مور د اولاد غوره هستي ده.

***

فکر! لوی خلک د ایډیاوو، منځیني خلک د پېښو او ټیټ خلک د افرادو په هکله خبرې کوي. (روزولت)

***

کله چې منفي فکرونو زموږ څېرې وګرځولې، هېڅکله به حقیقي ارامتیا ترلاسه نه کړی شو. (لاما)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

ښه انسان اوسه، نور ته یې د ثابتولو لپاره وخت مه بربادوه.

***

ژوند یوه تراژیدي ده، د هغه چا لپاره چې احساس لري خو برعکس کومیډي ده د هغه چا لپاره چې فکر کوي.

***

انسان د ژوند په اوږدو کې تر ټولو بدترین کار ته هغه مهال ملا تړي، کله چې وګوري د لاس ورکولو لپاره څه نه لري.

***

یوازینی څه چې تا له ماتې سره مخ کوي، هڅه او کوښښ نه کول دي.

***

هره شپه مخکې له دې چې بستر ته لاړ شې، ټولو ته ښنه وکړه او له سپینې زړه سره ویده شه.

***

تجربه د نړۍ تر ټولو بې رحمه ښوونکې ده، لومړۍ ازموینه اخلي او بیا درس درکوي.

څومره عقل مند دي، هغوی چې په مینه کې تر احمقتوب رسیدلي. (ویکتور هوګو)

***

زه په ژوند کې ډېرې ستونزې لرم، زما شونډې یې په اړه غوږ نه ګروي، هغه تل خاندي. (چارلي چاپلین)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

تېروتنې تل مخکې د بښلو وړ وي، البته چې څوک يې په زړورتيا د اعتراف غړ وکړي (لي)

***

بريا هېڅ پای نه مني.

***

حقيقي مينه او وفادر ملګري دوه داسې شيان دي، چې پيدا کول يې ستونزمن دي.

***

خدای (ج) هېڅکله ستا پر وړاندې تر هغې خپله ور نه بندوي، تر څو يې چې بله دروازه ستا پر مخ نه وي خلاصه کړې.

***

زه کولی شم ماته ومنم، خو نشم کولی ځان له بيا ځلې کوښښه راوګرځوم.

***

مقاومت !

سيند د وچې صحرا ځيګر څيرې کوي، د قدرت له وجې نه بلکې د ټينک اعزام او ارادې له وجې.

***

کله چې سختې ورځې دوام نه مومي، نو موږ (انسانان) ولې بايد تل پاتې کرکه ومنو.

***

ژوند ! ژوند د عقل او مينې ترمنځ له مبارزې علاوه بل څه نه دي. (مارک ټوين)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

بې عدالتي!

که چېرې په بې عدالتۍ کې بې طرفي غوره کړې، پوه شه چې د ستمګر لورې دې ټاکلی دی.

**

تر ټولو لوی ضعف د هغوی په ماته خوړلو کې نغښتی دی، د بریا لپاره تر ټولو مطمینه لار دا ده چې یو ځل بیا هم هڅه وکړې.

***

باور ! د باور د ترلاسه کولو حقیقت دا دی چې ډېر سخت تر لاسه کېږي، خو ډېر ژر او په اسانۍ سره له منځه ځي. (توماس واټسن)

***

صبور او مثبت واوسئ! په خپلو هیلو بیا ځلې تاکید وکړئ.

***

ځیني انسانان تر عمره زموږ په ژوند کې نه شي پاتې کېدلی، دوی یوازې د لارې تېرید

ونکې دي، ځي او راځي تر څو موږ ته یو درس په میراث پرېږدي.

***

کله مو چې خاطرې له هیلو قوي کېږي، تاسو زړښت پیلیږي.

***

مثبت فکر د نیکمرغۍ مقناطیس دی، چې نیکمرغه خلک او پېښې ستا په لور راجذبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

خپلو خبرو ته مو پام ونیسئ، کولی شئ په لسو ثانیو کې زړه دردونکي څه ووایاست، خو فکر مو وي چې لس کاله وروسته به یې هم زخم په خپل ځای ناجوړ پاتې وي.

***

هر څومره هڅه دې وکړه، هر څومره ماته دې چې وخوړه، مهمه نه ده بیا ځلې هم هڅه وکړه بیا هم ماته وخوره خو کوښښ مه پرېږده. (ساموئل بکت)

***

یوازیتوب؛ په ژوند کې تر ټولو بده دا نه ده چې یوازې پاتې شې، بلکې دا ده چې له داسې چا سره لاس او ګریوان شې چې ستا د یوازیتوب سبب وګرځي.

***

کله نا کله یوه اړتیا وي چې له چا فاصله ونیسې، که چېرې تا ته یې اهمیت درکړ پوه شه چې ورته ارزښت لرې، که نه ته به خپله وپوهیږئ چې چېرته ولاړ یې.

***

سختې ورځې؛ سختې ورځې په پیل کې بدې تر سترګو کېږي، خو په پای کې مالومیږي چې ستا لپاره ګټورې وې، پرېږده چې له تا څخه یو بهتر انسان جوړ کړي.

کور یوازې یو مکان نه بلکې یو احساس دی.

***

وخت له شیبو شمېرل کېږي، نه له یوه دیوالي ساعت څخه.

***

د زړه ماتونه لیدل کېږي نه بلکې حس کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

ټول له مینې کولو سره بلد دي، خو یوازې کم خلک پوهیږئ چې څنګه په مینه کې له یو چا سره اوږد مزل وکړي.

***

ظاهري ښکلا یوازې څو کاله دوام پیدا کوي، خو ښکلې شخصیت یو عمر.

***

که ژوند مو اسانه تېریږي ، ژوند مو خوښ او نیکمرغه دی.

***

دا تل په یاد ولره چې بریا تل د ساده کارونو تکرار دی.

***

اې لوی څښتنه ! تر هغه چې ته مې تر شا ولاړ یې، ما ته مهمه نه ده چې څوک مې لاړ نیسي.

***

که چېرې خوښ یې، غلی وخانده چې غم راویښ نه شي، که غمګین یاست غلی وژاړه چې خوښي ناهیلې نه شي. (چارلي چاپلین)

کله نا کله باید د بریا د ترلاسه کولو لپاره خطر په ځان ومنې.

***

په خپل ځان اعتماد او باور د یو انسان تر ټولو غوره ځانګړنه ده، خو څنګه یو نفر کولی شي ستا په وجود کې دغه ځانګړنه ووینې، که چېرې تا تر اوسه په خپله نه وي لیدلې. (تریسي)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

له خبرو پرته اړیکه، له احترام علاوه مینه او له باور پرته دوام وجود نه لري.

***

له هغه څه چې نور یې تر شا درپسې وايي، مه اندېښمن کېږه، هغوی داسې یو څوک دي چې د خپل ژوند د نیمګړتیاوو پر ځای یې ستا پر نیمګړتیاوو ځان مشغول کړی دی.

***

د نړۍ ټولې اندیښنې کولی شو یوازې په یوې جملې سره وزغمو: اې خدایه ! پوهېږم چې ګورې مې.

***

څوک چې د پرمختک حس ولري، کولی شي د ریښې په څېر د ځمکې لاندې هم رشد وکړي.

***

صداقت ! یوه ډېره ارزښتناکه ډالۍ ده، خو له بې ارزښتو یې انتظار مه لره.

***

ښه ملګري له تا سره مرسته کوي، چې هېر شوي شیان لکه خندا، هیله او زړورتیا بیرته بیامومې.

***

د نیکمرغه اوسیدو یوه ساده لار دا ده چې هغه شیان چې ستا د زوریدنې باعث ګرځي، پریږدې.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

مهمه نه ده، که چېرې انسان د هغه چا پر وړاندې چې مینه ورسره لري، خپل غرور له لاسه ورکړي. خو فاجعه ده که څوک د خپل غرور د ساتنې لپاره له چا سره چې مینه لري، له لاسه یې ورکړي. (ویلیام شکسپېر)

***

ستا وخت کم دی، نو ژوند دې د نورو په خوښه مه تېروه. (استیو جابز)

***

که له هر خندا وروسته مو له خدای (ج) مننه ونه کړه، نو روا نه ده چې له هر څاڅکي وروسته له خدای(ج) ګیله وکړئ.

***

انسانان هېڅکله له بدلون سره مخالفت نه کوي، هغوی د خپل ځان له تغیر سره مخالفت ښیي. (پتر سنګه)

***

تشدد د نالایقو اخیري پټنځای دی.

***

کله مو چې ژوند د سختۍ پر لور حرکت پیلوي، البته تاسو د قوي کېدو پر لور خوځون پیلوئ.

***

زه په حقیقي ډول هغه یم چې یم، نه هغه چې نورو له ما جوړ کړی. (پائلو کونیلو)

***

هېڅ څه د یو غر په اندازه له پلار سره د تشبیې وړ نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښىوونکې خبرې

***

زما خدای (ج) ښکلی دی، زه یې د واورې په هر څاڅکي کې وینم.

***

د یوې ورځې تېروتنې له امله یوه حقیقي اړیکه له منځه مه وړئ، هېڅوک بې عیبه نه دي، هېڅوک په کامله توګه سم نه وايي. مهرباني تل له هر څه مخکښه ده.

***

په سهار کې یو وړوکی مثبت فکر کولی شي ستا ټولې ورځې ته بدلون ور وبښي.

***

که د یو کال ګټه غواړې غنم وکره، که د دوو کالو ګټه غواړې ونه کینوه او که غواړې د سلو کلونو ګټه ترلاسه کړې، خلکو ته زده کړه ورکړه.

***

اې انسانه! ته تر دې حده قیمتي یې چې یوازې خدای (ج) ستا د اخیستو توان لري، نو خپل ځان د یو خاکي بنیادم پر وړاندې مه بې ارزښته کوه.

***

د ژوند مفهوم ډېر ساده دی، دا موږ یو چې هڅه کوو هغه پیچلی کړو. (کنفوسیوس)

***

د ځینو خبرو ځواب یوازې په زړه کې د یو ژور نفس په اخیستو سره ورکړه.

***

په چا پورې مه خاندئ او مه یې په اړه ژر قضاوت کوئ، ممکن یوه ورځ ته هم په همدغه حالات کې قرار ولرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښووونکې خبرې

***

هېڅ انسان نه پوهیږي چې د نړۍ پر مخ یې څومره ژوند باقي پاتې دی، څه چې تل پاتې کېږي زموږ کړنې، خاطرې او احساسات دي چې په ککریو کې راټوکیږي او انسانان دي چې موږ له مینې سره یادوي.

***

هر څومره چې منفي پوښتنو ته کم ځواب ورکړئ، په ژوند کې به ډېره ارامتیا ترلاسه کړئ. د خلکو د خبرو په باب مو ژوند مه خرابوئ، که ته پیغمبر هم وای د خدای (ج) په اړه به یې زرګونه خبرې او اعتراضونه وړاندې کړي وای. نو بې ځایه ځان مه ستړی کوه.

***

یوازینی څه چې ستا د شتون لامل ګرځي، په واقعیت کې ته په خپله یې. بهانې نوره کافي نه دي، وخت تغیر راوړي نو د دې وخت رارسیدلی چې د ژوند غاړه بدله کړې.

***

هیله له لاسه مه ورکوئ، هر څه د یو ځانګړي دلیل په وجه پېښیږي، هېڅکله نه پوهیږې چې سبا به څه پېښ شي.

***

لوی خلک په ځان ژاړي او کوچني خلک په نورو.

ملګری ! ملګری یا ورور دی یا خور، چې موږ یې ټاکو.

***

ستونزې ! ستونزې د لباس مینځلو د ماشین په څېر موږ کاږه او سرچاپه کوي او موږ غاړو ته څنډي، خو په پایله کې موږ ته لاروښانتیا او سپین والی راپه برخه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

یوه میره باید دا زده کړي، چې خپل شپون ته څنګه احترام ولري. (باب مارلي)

***

خیانت؛ نورو ته د خیانت په قیمت نه شي کولی ځان ته خدمت وکړي.

***

څوک چې د فساد پر وړاندې د مبارزې غږ پورته کوي، لومړی باید په خپله پاک واوسي. (پوتین)

***

پلار؛ پلار د زوی لپاره لومړنی اتل او د لورکۍ لپاره لومړنی میین دی.

***

اړیکې؛ اړیکې د الوتونکو په څېر دي، که چېرې محکم یې ونیسې مړه کېږي، که چېرې سست یې ونیسې الوزي، خو که چېرې په دقت او پام سره یې ونیسې، تل مو تر څنګ پاتې کیدای شي.

***

له ماتې خوړلو مه ډارېږه، له بیا ځلې هڅې نه کولو وډار شه.

***

تل دعا وکړه، داسې سترګې ولره چې په انسانانو کې بهتر والی ووینې، زړه چې تیروتنې وبښي، ذهن چې بدۍ هیرې کړي او روح چې په خدای (ج) ایمان له لاسه ورنه کړي.

***

یوه ترخه پیاله، تل له یوې ترخې ناتمامې غوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

لعنت ! لعنت دې پر هغه چا وي، چې ته ورسره مینه وکړې او هغه فکر وکړي چې ته ورته اختیاج یې.

***

د یو داسې حقیقت راسپاړل چې په درون کې یې پټېدنه ټولیزه شوي وي، یو عملي انقلاب دی. (جورج ارون)

***

قهر ! هر کله مو چې له قهر سره روغبړ وکړ، پوه شه چې له تا پرته به ډېر څوک ونه ژاړي.

***

زه هغه چا ته چې له پرون څخه نن نه وي خبر شوی، اهمیت نه ورکوم. (ابراهام لینکلن)

***

خدای (ج) زه د څمکې مخ ته رالیږلی یم، تر څو داسې کار ترسره کړم چې څوک مې مخه ونه نیوی شي، که خدای (ج) وغواړي مخه مې ونیسي، زه به ودرېږم، خو انسانان هېڅکله دا کار نه شي کولی. (باب مارلي)

***

درناوی ! درناوی د هغه چا لپاره دی چې لایق یې دی، نه د هغه لپاره چې طالب یې دی.

لوی څښتن انسانان د یوه دلیل له مخې ستا ژوند ته دننه کوي او د یو بهتر دلیل له مخې یې خارجوي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

ټول محبت دې په یوه وار خپل ملګري ته مه ښکاره کړه، کله مو چې لږ تغیر وکړ، ته یې بیا دښمن جوړېږې. (سکرات)

له مرګ څخه ویره له ژوند څخه ویره ده، چا چې ښه ژوند تېر کړی وي، تل د مړینې لپاره چمتوالی لري. (مارک ټوین)

***

هغه انسان چې محتاط او محافظه کار دی، هېڅ ځای ته به ونه رسیږي، هغوی په یوه ثابته نقطه کې پاتې کېږي، د پرمختک لپاره باید له هر څه وړاندې لږ زړه او جرات ولري. (رابرټ کیوساکي)

***

کله چې دوه زړونه له یو بل سره وګنډل شي، هېڅ کوم زمان، فاصله او ککړی نه شي کولی دوی له یو بل بېل کړي.

***

کله چې سهار پیلیږي، ټاکنه ستا په لاس کې ده چې څه وواياست: اې لوی څښتنه! سهار مو پخير، یا وواياست: خدای دې خير کړي بیا سهار شو.

***

کله نا کله باید خپل سر ټیټ ونیسې، دعا وکړې او طوفان وزغمې.

***

ټولو ته مې غږ وکړ، پرته له خدای (ج) هېچا ځواب را نه کړ.

***

پرېښتې تل وزرونه لري، خو ځینې چې وزر نه لري ورته نجلۍ وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

افتخار مه کاوه، که د سر د ویښتانو په اندازه دوستان هم ولرې، کله چې محتاج شوې پوه به شې چې پک یې.

***

د شیبو قدر وپېژنه، داسې وخت رارسیږي چې نور به قادر ونه اوسې چې ووایې زه یې جبرانوم.

***

د انسانانو درې کړنې له فکره مه غورځوه :

- چا چې په سختۍ کې لاس درکړ.
- چا چې په سخته کې یوازې پرېښودلې.
- چا چې په سختۍ کې غم درکړ.

***

عجیبه ده ! کله نا کله موږ خپل زیات وخت د یو چا په هکله په فکر کولو ضایع کوو، په داسې حال کې چې هغه د یو شیبې لپاره هم زموږ په هکله فکر نه کوي.

***

د سبا لپاره تیاری د نن ورځې په هڅه کې نغښتی دی. (بروس لي)

***

اسمان د لوړ پرواز لپاره یو فرصت دی، ولې پوښتنه دا ده چې غواړې څنګه کوتره واوسې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښوونکې خبرې

***

شمېرل ؛ خپلو اولادونو ته شمېرل مه ور زده کوئ، هغوی ته ور زده کړي چې څه شی د شمېرلو ارزښت لري.

***

هغوی چې غواړي نور ورته تل لاسونه وپړکوي، خپله خوښي يې د نورو په لاسونو کې بند پاتې ده.

***

څوک چې له تا سره قصد او کینه کوي، هغوی ته درناوی ولرئ ؛ ځکه هغوی د زړه له کومې اعتقاد لري، چې تاسوله هغه بهتر یاست.

***

خپله پوهه په جهل او خپل یقین په شک مه بدلوئ، کله چې پوهې ته ورسیدئ عمل ورباندې وکړئ، کله چې یقین ته رسیږئ اقدام وکړئ. (علي رض)

***

زما د ژوند غاړه ساده ده. ته له ما سره ښه رفتار وکړه او زه حتما له تا سره ښه رفتار کوم.

***

خاموشه انسان، بالغ ترین ذهن لري.

***

شاید هغه ښکلې او زړه وړونکې نجلۍ ونه وسي، خو که ورباندې مئین یاست په یوې خندا سره ستا زړه وړی شي، ایا نور څه د ارزښت وړ دي؟

لوی ماته ممکن ستا د سترې بریا سبب وګرځي. (والټ دیزني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هيله بښوونکې خبرې

***

وخانده ! ځکه چې غم دې دنيا نه بدلوي.

***

د خپل مينې لپاره ژوند مه کوه، د هغه چا لپاره ژوند وکړه چې ستا د مينې له امله ژوندی دی.

***

مور! تل پر مور مېين اوسه، ځکه هېڅکله به د هغې په شان بيا پيدا نه کړې.

***

څوک چې هدف لري، هېڅکله د خپل مسير د بدلون پر مهال وسوسې ته اړتيا نه لري.

***

خوبونه مو مه پرېږدئ چې له خاورې سره خاورې شي، يوه ژوره ساه واخلئ او بيا له سره هڅه وکړئ.

***

مينه د لمونځ کولو په څېر ده، کله چې نيت وتړې بايد نور نو يو بل څنګ ته ونه ګورې.

***

تل خپل واوسه، له ځان نه يې وواېه، په ځان ايمان ولره، د برياليو اشخاصو تقليد مه کوه. (بروس لي)

***

يو واقعي انسان له خپلې ميرمنې سره داسې رفتار کوي، لکه څنګه يې چې بل انسان له خپلې لور سره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

اې لوی څښتنه ! ته پوهیږې چې انسان کېدل، انسان پاتې کېدل په دې نړۍ کې څومره ستونزمن دي، څومره تکلیف تېروي هغوی چې انسانان دي او له لوړ احساس څخه برخمن دي.

***

موږ دا ډول انسانان یوو چې له پاکوالو سره عادت لرو، لومړی مو خپلې اوښکې پاکې کړې بیا د یو بل.

***

یوازیتوب له بد ناستي څخه غوره دی. (حضرت محمد ص)

***

خدای (ج) ځینې نجلۍ داسې پیدا کړې تر څو ثابته کړي، نجلۍ هم نارینه پیدا کیدای شو.

***

ځینې له ځینو وروسته نه مري، خو ځینې له ځینو وروسته ژوند ونه کړای شو.

***

مینه یعنې په نیمه شپه د خدای سره ناسته ... .

***

په خپله واوسه ! که د چا خوښ نه شوې مه خپه کېږه ! دلته د مجسمې جوړنې کارخانه نه ده. (چې ګوارا)

که هدف په کافي اندازه مهم واوسي ترسره کېږي، حتی که د بریا چانس یې کم هم وي. (ایلان ماسک)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

ممکن ټولې ورځې ښې نه وي، خو ښه شیان په هره ورځ کې شتون لري.

***

ټول څه ممکن په کامله توګه هېڅکله ښه نه شي، خو موږ باید د هغې لپاره هڅه وکړو.
(ولادیمیر پوتین)

***

انسانان د خپلو غمونو په اندازه زړیږي، نه د خپلو عمرونو په اندازه.

***

تراژیدي هغه مهال پېښیږي چې ونه د ټیټیدو په عوض، ماته شي. (لودویک)

***

هغه کسان چې تا پېژني او خدای نه، داسې ژوند وکړه چې له تا سره د اشنا کېدو له وجهې هغوی خدای هم وپېژني.

***

هغوي چې د سپېڅلو او ښکلو فطرتي افکارو په درلودلو د نورو په زړونو کې ځای لري، هېڅکله د هېریدنې وېره نه لري. (کوروش)

***

زه چې له خاورې جوړ یم، بیا نو دومره غرور د څه لپاره.

***

هغه انسانان چې هڅه کوي دا نړۍ بدتره کړي، هېڅکله هم نه ودریږي، نو موږ باید ولې ودریږو، حل دا چې له هغوی سره ځمکه او اسمان توپیر لرو. (باب مارلي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښښوونکې خبرې

***

بډایه نه یاست، تر هغه چې داسې یو څه ولرئ چې په پیسو یې د اخیستو قادر ونه اوسئ.

***

ځینې نورو ته دومره وفادار دي، چې د هغه لپاره له خپل ځان سره خیانت کوي. (مارکز)

***

هغه انسان چې د پرمختک په حال کې دی مه یې زړه کوه، که څه هم پرمختک یې سست روان وي.

***

قهر یو داسې احساس دی چې باعث کیږي، ژبه مو له فکر څخه تیز کار وکړي.

***

که مو له منت پرته محبت، له ګناه پرته خوند او له شرط پرته ښښنه ترسره کړه، هغه ورځ به مو په واقعي ډول ژوند کړی وي.

***

تل په یاد ولرئ، ننني وضعیت ستا نهایي سرنوشت نه دی، هغه ورځې راتلونکي دي.

***

له داسې چا سره اوسه چې د اندیښنې پر ځای تر ټولو ښه احساسات په تاسو کې راوټوکوي.

***

که د ژوند تر ټولو ښې شیبې مو لا تراوسه نه وي راغلي، نو انتظار وباسئ.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

زه یو شخصي ژوند لرم، چې چاته یې د ورننوتو اجازه نه ورکوم، باید دغې موضوع ته درنښت ورکړل شي. (ولادیمیر پوتین)

***

له مرګه مه ویرېږئ! له دې وبیرېږئ تر هغې چې ژوندي یاست، په درون کې مو د انسانیت په نوم څه ونه مري.

***

انسان د وخت له نه شتون څخه ګیله لري، ولې اساسي ستونزه یې د هدف نه شتون معلومېږي.

***

وخت انسانان نه بدلوي، بلکې وخت د انسانانو حقیقتونه ښکاره کوي.

***

که چا یو ځل درسره خیانت وکړ دا ستا تېروتنه نه ده، خو که چېرې دویم ځل داسې کار ترسره شو دا بیا ستا تېروتنه بللی شو. (لاما)

***

که خاوند هیله لري میرمن یې په ژوند کې یوه فرښته واوسئ، لومړی باید یو جنت ورته جوړ کړي.

***

نیکمرغي تل له تاسو پیلیږي.

له ژوند څخه مې وپوښتل، ولې دومره سخت یاست؟ ژوند وخندل او ځواب یې راکړ: تاسو انسانان هېڅ مهال د ارامتیا قدر نه پېژنئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

د هر چا ښښنه د هغه د مینې په اندازه ده، ښښونکي تل مینان دي.

***

ملګرتیا هغه وخت زیږیږي، چې یو فرد ته ووایي: څه ! ته هم همدا ډول ؟ ما فکر کوه چې یوازې زه دا ډول یم. (لوئیس)

کله نا کله یوازې د انسان زړه چې ونه مري غواړي واوري، مینه درسره لرم.

***

د خبرو پر ځای عمل وکړئ، د ویلو پر ځای یې ور وښایاست او د وعدې پر ځای یې ثابت کړئ.

***

ما په درون کې یو داسې شوق او میل بیاموند، چې د نړۍ هېڅ تجربه یې ځواب نه شي ویلی، خو لویه توضیح یې دا ده چې زه د یوې بلې نړۍ لپاره جوړ شوی یم. (لوئیس)

***

دا به مو په خپل حق کې ډېره بزرګي کړې وي، هغه چې زموږ روح چټلوي پرې یې ږدو.

***

هېڅکله دومره زوړ نه یاست چې و نشې کولی یو بل هدف وټاکې یا یو نوی فکر وکړئ. (لوئیس)

***

د نړۍ نیم ولس د ویلو لپاره ډېر څه لري، ولې په بیان یې قادر نه دي او برعکس بیا نیم ولس د ویلو لپاره هېڅ نه لري، خو ژبه یې له خبرو نه قراریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښووونکې خبرې

***

د ښکلې صورت په لټه کې مه اوسه چې زړېږي، د ښه اندام په لټه کې مه اوسه چې بدلیږي، د ځلېدونکو ویښتانو په لټه کې مه اوسه چې سپینیږي، له دې ټولو علاوه د یو داسې وفادار زړه په لټه کې واوسه، چې تر پایه له تا سره مینه ولري.

***

انسان اړ نه دی چې حقایق ووایاست، خو مجبور دی هغه څه ووایي چې حقیقت لري. (ع. شریعتي)

***

خام خلک تل په بحث او خبرو کې بریا غواړي، حتی که د یوې اوږدې اړیکې د لامنځه تللو سبب هم شي.

***

ازادي ارزښت لري، خو چې قیمت یې ورکړل شي. (ژول ورن)

***

که د یو انسان د خوښولو توان لرې نو ژر دا کار ترسره کړه، نړۍ همدا ډول کړنو ته اړتیا لري.

***

فاصله هیڅ مهمه نه ده، که دوه زړونه نسبت ځان ته وفادار واوسي.

***

راځه چې ګناه ترسره کړو، په هغه ځای کې چې خدای وجود ونه لري. (ع. شریعتي)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

هغوی چې ما پېژني، هېڅکله په ما شک نه کوي او هغوی چې په ما شک لري، هېڅکله ما نه پېژني.

***

میز د کار لپاره، کار د تخت لپاره، تخت د خوب لپاره، خوب د ژوند لپاره، ژوند د مرګ لپاره، مرګ د یاد لپاره او یا د بیا د تیرې لپاره، دا دی ژوند.

***

منفي خلک د یو سړک یوازې کوړوالی ویني او مثبت یې ښکلا. په پایله کې دواړه خپل هدف ته رسېږي، یو یې حسرت او بل یې خوند تر لاسه کوي. (سایت میکنا)

***

خپل باارزښته وخت مو په توضیح ورکولو مه بربادوه، خلک یوازې هغه څه اوري چې غواړي وایې اوري.

***

خوښي د سلامتیا په څېر ده، له هغې د خوند اخیستو لپاره باید کله نا کله له هغې محروم شې. (ژول ورن)

***

موږ د سبا په هیله مندی ننۍ ورځ شپه کوو، ولې هېڅکله نه پوهېږو چې سبا همدا نن دی.

***

انسان هېڅکله کامل او قانع نه دی. (ژول ورن)

هره نوې ایډیا له دریو مرحلو تېرېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

اوله مرحله : نه شې کېدلی چې ترسره شي.
دویمه مرحله: ممکن ترسره شي، خو د ترسره کېدو ارزښت نه لري.
درېیم مرحله: له اوله پوهېدم چې یوه ښه ایډیا ده. (ارتر کلارک)

***

ولې د دې په لټه کې یو چې وپوهېږو ګلان اغزي لري، راځئ چې د دې په لټه کې واوسو چې ولې اغزي ګلان لري؟

حقیقت یوه ترخه دوا ده، خو پایله یې خوږه ده.

***

که انتظار او تمه ونه لرې، ټول ستا دوستان دي.

***

تل خپل دښمنانان وبښئ، له دې پرته به ډېر نور څه دوی ونه زوروي. (اسکار وایلد)

***

په ژوند کې د سطرنج خلاف لوبه له کش او مات پرته هم ادامه پیداکوي. (اسیموف)

***

وګوره او پرې یې ږده، خاطر هېڅا ته مه سپاره. (سعدي)

***

سیاست یوه پوهنه ده، تاسو کولی شئ اثبات کړئ چې حق له تاسو سره دی او نور له تیروتنو سره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښوونکې خبرې

له ځان سره مینه، د ځان په کیسه کې کېدل او خپل خوښې ته لومړیتوب ورکول مغروریت نه دی، یوه اړتیا ده.

***

که چېرې غواړې نیکمرغه اوسې، ژوند مو په یو لوی هدف پورې وتړئ، نه په افرادو او شیانو پورې. (انیشټین)

***

د خپلو تنکیو ماشومانو په ذهن کې دا کېنوئ، چې پورته کېدل د راغورځېدو پر ځای ډېر ستونزمن وي.

***

ښه نه ده چې مقابل لوری ستا له احساس څخه خبر شي، کله ناکله خلک د مینې لرلو ظرفیت د نورو له طرفه نه لري. (جویس)

***

چوپ پاتې کېدل نیم حکمت دی، د نورو نه تعقیبول نیمه ارامتیا ده او د نورو په کارونو کې مداخله نه کول، نیم ادب دی.

***

یو ډول کسان دې ژوند ته دننه کېږي، تر څو ستا لپاره نعمت واوسي او ځینې نور بیا عبرت.

***

طبیعت زموږ مهربان دوست او د تجربوي علم تر ټولو ښه منتقد دی، خو که یوازې اجازه ورکړو چې مالومات یې زموږ ذهن ته لار پیدا کړي. (مایکل فارادی)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

درې شیان باید وپلټل شي: د انسان اړیکې د هغه د اوسېدو له چاپېریال سره، د انسان اړیکې د نورو انسانانو سره او بالاخره د انسان اړیکې له خپل ځان سره. (م. موام)

***

موږ ته د ضرر رسولو تر ټولو لوی قوت له هغوی سره دی، چې مینه ورسره لرو. (فرانسیس)

***

راځئ چې ترل شوې ژبې وګنډو، خو تړلي فکرونو ازاد کړو، د خبرو کولو لپاره تل وخت شتون لري، خو د فکر لپاره ممکن ځنډ شي. (دولت ابادی)

***

مفکوره، انګیزه، باورونه او اعتقادونه داسې نه دي چې ټول په یوه ورځ وران شي او موږ یې ښه والی وغواړو. وخت، هڅه، کوښښ او بیا هم کوښښ په کار دی.

***

منی څه شی دی؟ دویم پسرلی چې په هغه کې ټولې پاڼې د ګلونو په څېر وي. (البر کامو)

***

که دې فکر وړی یاست چې نور ستا په هکله څه فکر کوي، یا خو له نورو ډارېږې یا په ځان باور نه لرې. (دولت ابادی)

***

ژوند مې وکړ، یوازې په دې لیل چې نشو مې کولی هغه ودروم، البته یو جوت دلیل مې هم د هغې د پرېښودلو لپاره نه درلود. (مستور)

***

څوک چې زموږ هیلې له موږ پټوي، په حقیقت کې له موږه ژوند پټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د لوی انسان لپاره ترل شوی ور وجود نه لري، هغه په دې باور دی چې یوه لار به بیامومي او یا به یوه جوړه کړي.

***

مثبت فکر وکړئ، په ډېر احتمال سره به مثبتې پېښې ووینئ.

***

د دریو شیانو لپاره هېڅوک مه مسخره کوه، لومړی څېره، دویم مور پلار او درېیم ټاټوبی، ځکه چې انسان یې د ټاکنې په برخه کې هېڅ حق نه لري.

***

معلومات، د ځان د ناپوهۍ تدریجي پوهېدنه ده. (ویل دورانت)

***

مه تسلیمېږه ! نوی پیل تل یوه سخته ازموینه ده.

***

د ماتو خوب لیدونکي مه پرېږدئ، چې پر تاسو هم د ماتو خوبونه وویني.

***

له نیکۍ او ښښنې پرته هېڅ څه انسان نه شي ماڼولی. (ارستو)

***

د چا دښمنۍ ته په زړه کې لار مه ورکوه، چې تا تل وکړوي. (ارستو)

***

تر ټولې بدې ورځې هغه دي، چې په هغې کې مو نه وي خندلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

یوازې یو مړ شوی ماهي له اوبو سره سم حرکت کوي، نه ټول ماهیان.

***

فرصتونه د ستونزو په ګېډه کې پټ شوې دي.

په خپل ځان د اعتماد او باور د ترلاسه کولو لپاره تر ټولو غوره د هغو کارونو ترسره کول دي، چې موږ یې له ترسره کولو ډارېږو.

***

ستونزې او دردونه دي چې ژوند ښکلی کوي او په هغوی غلبه ژوند ته مانا وربښي.

***

ژوند له پېښو او تجربو پېیلی زنځیر دی، چې د شخصیت د پرمختک سبب ګرځي، خو که چېرې هغوی ته د زده کړو په سترګه وګورو. (هنري فورد)

***

یوازینی څوک چې ستا خوبونه او هیلې په رښتیا بدلوي، تاسو په خپله یاست. (انشتین)

***

ښې مفکورې کمې نه دي، هغه څه چې کم پیداکېږي، د هغو د اجراء عزم دی.

***

باید په یاد ولرو، له چا سره چې مرسته نه شو کولی، دعا ورته وکړو.

***

انسان باید تر هغه ونه مري، تر څو یې چې په نړۍ کې له ځانه کوم اغیز نه وي پرېښودلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هیله بښوونکې خبرې**

(ناپلئون بناپارت)

***

زه ماته منلی شم، خو بیا ځلې هڅه نه کول نه شم منلی. (مایکل جودن)

***

ایا تاسو بریا ته د رسېدو لپاره یو فرمول ته اړتیا لرئ ؟ ډېر ساده دی، د ماتو تعداد مو زیات کړئ. (توماس واټسن)

***

کله چې استعداد ځان ونه ښندي، سخت والی په هغې غلبه کوي.

***

د ستونزو سره داسې رفتار کول چې ستا د بریا باعث وګرځي، یو بېل هنر دی.

***

د یو پیاوړي مدیر لومړی ځانګړنه د قوي ارادې درلودل دي. (اندره موروا)

***

د چانس په تمه مه کینئ، ځان ته یې ورغوئ.

***

که ژوند مو لوړې ژورې ونه لري، تاسو د یو مړي په څېر یاست.

***

بریا تا ته نه درځي، تر هغې چې ته یې په لوري ور نه شې.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

ځوک چې رښتینې مینه درسره ولري، که د تللو لپاره سل دلیله موجود هم وي تا به یوازې پرې نه ږدي. هغه حتما د پاتې کېدو لپاره یو دلیل پیداکوي.

***

که بدلون ته د پای ټکی ږدې، پوه شه چې ژوند ته مو د پای ټکی کېښود.

***

خپله ارامتیا مو په هېڅ څه او هېچا پورې مه تړئ، تر څو تل هغه له ځان سره ولرئ.

***

د یو میرمنې وفادري هغه مهال مالومېږي چې خاوند یې هېڅ ونه لري، خو برعکس د یو خاوند وفادري هغه وخت مالومېږي چې هر څه ولري. (مترلیک)

***

بډایه اوسېدل یو اخلاقي جرم نه دی.

***

خپل سر مو اوچت ونیسئ، دا په ژوند کې د بریا راز دی.

***

د ناممکنو کارونو لپاره مبارزه یو ډول خوند دی. (والټ ډیسني)

***

په فکر مو وخت ولګوئ، خو کله چې د عمل وخت راورسېد نوره فکر مه کوئ، عمل وکړئ.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

فکر کول سخت کار دی، په همدې دلیل خلک زر قضاوت کوي. (کارل)

***

بریا ساده ده، کافي ده چې یو سم کار په مناسب وخت کې په سمه توګه ترسره کړې.

***

مخکې له دې چې وغواړې نور رهبري کړې، لومړی باید ځان مدیریت کړې.

***

نیکمرغي په مقام او شتو پورې تړاو نه لري، بلکې یوازې په اند پورې تړلې ده. (دیل.ک)

***

له هغو ټولو ناوړه انسانانو په دې مننددوی یم، چې ما ته یې وښودله باید کوم ډول انسان واوسم.

***

لوی خلک ارادې لري او کوچني خلک هیلې.

***

هنرمند نه شي کولی ماته وخوري، هنرمند کېدل په خپله یوه بریا ده. (چارلز کولي)

***

هېڅکله خندا مه هېروه حتی که غمجن یاست، امکان لري یو څوک ستا د خندا عاشق واوسي. (کارسیا مارکز)

***

ژوند یو ځل نه بلکې هره ورځ له سهاره بیا پیلیږي. (جول اوستین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

که جرات یې لرې، سر دې پاس ونیسه او د هر هغه څه چې غوښتونکی یې له خدای وغواړه، بېشکه چې لوی څښتن بښوونکی او مهربان دی.

***

سخته هڅه د بریا کیلي ده، لویې بریاووې په زور او قدرت سره نه بلکې په پرلپسې کوښښونو تر لاسه کېږي. (ساموېل جانسون)

***

هر بدلون او تغیر چې د نړۍ لپاره یې هیله لرې، لومړي په ځان کې ورغاوه. (ګاندي)

***

ژوند د باور او مینې لرلو لپاره دی، ما کلونه باور وکړ او مینه مې ولرله، ډېر مې رښتیا وویل او ډېر مې دروغ واوریدل. (نیما)

***

فاصله ! که نږدې شو سوزېږو، که لرې شو یخ مو وهي.

***

که ته مثبت فکر ولرې تا ته به ټوله نړۍ یو ښکلی باغ ښکاره شي. (فرانسیس هوډسن)

***

ښه شیان د هغه چا نصیب کېږي چې صبر لري، خو ډېر د هغه چا په لوري چې هڅه کوي.

***

هغه څه چې له مرګ وړاندې انسان وژني، ناهیلي ده.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

ژوند لنډ دی، فرصتونه تلونکي او افسوس پاتې کېدونکی. ... هېڅکله اجازه مه ورکوه، څوک مو د سبا د نیکمرغۍ په پلمه د نن خوښي درنه واخلي.

***

زه نه شم کولی د بریالیتوب کوم ځانګړی فرمول تا ته بیان کړم، خو که غواړې د ماتې فرمول در وښیم، هغه دا دی چې هڅه وکړې ټول راضي وساتې.

***

د پیل لپاره هېڅکله ناوخته نه ده.

***

له خوښۍ اوسېدلو، ښکلا لرلو، خندیدو او ګډېدو سره هم کولی شو جنت ته ولاړ شو، کافي ده چې ښه انسان واوسو.

***

عادي انسان هیلې او ارزوګانې لري، خو لوی انسان برنامې او هدفونه! تاسو څنګه؟

***

د بریا د ترلاسه کولو لپاره کوم خاص راز شتون نه لري، البته د سخت او پېچلي کار د برنامې نتیجه او له ماتو زده کړه ده. (کالین پاول)

***

هر چېرې چې طبابت د علاقې وړ وي، هملته د انسانیت لپاره علاقه زیاته وي. (سکرات)

***

په پیسو سره کولی شې ممکن هره مینې ته دننه شې، خو پرته د مور له مینې څخه. (جرج. ب. شاو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

زه له هغه کسانو چې فکر کوي ډېرې خبرې د پوهې، خاموشي د ناپوهۍ او زړه ترنه د هنر په مانا دي، لرې والی غوره ګڼم. (جبران خلیل)

***

هغوی چې د سبا په باب فکر او نظر نه لري، تل تېر ته ستانیږي.

***

بریالیتوب یو هدف نه دی چې هغې ته ورسیږو، بلکې یو سفر دی چې د کیفیت درجه یې د توجه وړ ده. (جونیفر جیمز)

***

هغه مهال له کار لاس واخلئ چې کار مو پای ته ورسیږي، نه هغه وخت چې ځان ستړی احساس کړئ.

***

هره نوې ورځ چې را درومي، دا تاسو یاست چې ټاکنه کوئ ځنګه دې تېره شي.

***

هر ساختمان (جوړښت) یو وخت یوازې یوه ساده نقشه وه، مهمه نه ده چې نن په کوم حال کې قرار لري، مهم ستا راتلونکی دی.

***

د بریا تر ټولو لویه ځانګړنه لاس په کار کېدل دي.

***

د نړیوالې نوبل ادبي جایزې له ګټونکي ګابریل ګارسیا مارکز یې وپوښتل: که وغواړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د هیلې په اړه سل پاڼې تورې کړې، څه به ولیکې؟ ویې ویل: (۹۹) پاڼې به سپینې پرېږدم او د سلمې پاڼې په اخیرنې پراګراف کې به ولیکم:

په یاد ولرئ چې نړۍ ګرده ده، هر هکله مو چې احساس وکړ پای ته رسیدلی یاست، ممکن ته یې د پیل په نقطه کې قرار ولرې.

***

لوږه د ضعف نښه نه ده، د زېږیدنې له مهال څخه دا د دې نښه ده چې تاسو ژوندي یاست.

***

کله نا کله د خوشبختۍ د څکلو لپاره باید د زړه په لار لاړ شئ، ارزښت مه ورکوئ چې نور ممکن څه فکر وکړي.

***

هر چېرې مو چې افکار درومي، انرژي هم په هماغه لوري مزل پیلوي. (مارک فیشر)

***

که څوک مو له ژونده درومي مخه یې مه نیسه، تاسو له هغو سره چې پریږدئ مو راتلونکې نه لرې، ستا راتلونکی له هغو سره تړل شوی چې په هر حال مو په ژوند کې پاتې کېدل غواړي.

***

موږ اوریدلي چې ویل کېږي، تل مو له تېروتنو زده کړه وکړئ. زه فکر کوم چې له دې مهمه دا ده چې له بریاوو هم څه زده کړو، که چېرې یوازې یې له تېروتنو زده کړو، بیا به مو یوازې تېروتنې زده کړې وي. (نورمن ونسنټ پیل)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د هغه څه لپاره چې تراوسه مو نه درلودل، باید داسې یو څوک واوسو چې تراوسه نه و.

***

د پرمختک لپاره باید سختې وګلو، د پوهېدلو لپاره باید ماته وخورو او د لاس ته راوړلو لپاره باید یو څه له لاسه ورکړو.

***

په نړۍ کې هېڅ څه ثابت نه دي، یوازینی ثابت اصل په نړۍ کې تغیر دی. (انتوني رابینز)

***

لوي ښتن په درې ډوله تا ته ځواب درکوي: کله چې وایي هو، هغه څه مو چې غوښتي درکوي یې، کله چې خداي (ج) وایي نه، یو ښه شی ستا انتظار باسي او کله چې وایي صبر وکړه، پوه چې یو بهتر څه ستا په نصیب کې دي.

***

په ژوند کې مو دوه ډوله درد وجود لري، یو هغه چې ستا د رنځ سبب کېږي او بل هغه چې تا ته د تغیر او بدلون زیری راوړي. (ارنولډ بنت)

***

تر هغې چې کولی شې تېروتنې وکړه، په یاد ولره همدا ډول به بریا ته ورسېږې. (توماس واټسون)

***

هېڅ انسان کامل نه دی، خو هغوی چې فکر کوي کامل دي هېڅکله د خپل کاري ټیم په درد نه خوري. (جان مکسوېل)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

څومره ښه ده چې د بې نیازۍ په اوج کې د لوي څښتن پر لوربیا هم د دعا لاسونه پورته کړې.

***

زه داسې یوه څېره نه شم موندلی، چې په قطعي ډول بیاموم‌ي څه ممکن دي او څه نا ممکن. (هنري فورد)

***

هر څوک چې د یو کار په ترسره کولو کې مهارت ولري، ترې خوند اخلي. (ناپلیون هیل)

***

له خدایه دومره هیله مند اوسه، چې د ګناه کولو جرات ونه لرې او دومره ترې وډار شه چې له رحمت څخه یې نا امید نه شې.

***

له ماتې مه ډارېږه، له بیا نه کوښښ کولو وډار شه.

***

څوک چې اعتقاد لري نور به یې ستونزې ور حل کړي، دا داسې ده لکه څوک چې له سیند څخه د پورې وتو لپاره د سیند وچوالي ته انتظار باسي.

***

د نړۍ تر ټولو لوی اقیانوس (ارام) دی، نو ارام اوسه تر څو لوي والی احساس کړې.

***

تقدیر او تقویم د عادي؛ تغیر او تدبیر د لوی خلکو کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

ته نه شې کولی څوک دې ته اړ باسې تر څو ښه رفتار ترسره کړي، خو کولی شې داسې فعل ترسره کړې، چې هیله ولري کاش یو ښه رفتار یې ترسره کړی وای.

***

د شیبو قدر باید وپېژنو.

***

کله چې ګل ته ګورئ اغزي یې نه وینئ، نو کله چې مثبت یاستو ولې منفي فکر وکړو.

***

په خوشبختۍ ایمان لرم، نو د دې لپاره سخت کوښښ کوم. (هنري.ت)

***

صبر د بریالیتوب اصلي عناصر دی. (بېل ګېټس)

***

که ته یوه مڼه ولرې او زه هم یوه، که چېرې له یو بل سره یې بدلې کړو، بیا هم ته یوه مڼه لرې او زه هم یوه، خو که ته یوه ایډیا ولرې او زه هم یوه، او بیا دا خپلې ایډیاووې سره یو بل ته ورکړو، په دې صورت کې موږ هر یو دوې ایډیاووې لرو. (جورج برنارډ شاو)

***

له هغه څه چې ډېر مطمیین یم دا ده، چې له کومې ستونزې سره چې مخ شم، پرته له دې چې په هغه کې له نغښتل شوو درسونه زده کړم، دا ستونزې به بیا بیا هم تکرارېږي، تر څو زموږ لپاره عبرت وګرځي.

***

نیکمرغي دا ده چې انسان نړۍ په هغه ډول چې هیله لري، ووینې. (کورنر)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

قبرونه له هغو ډک دي، چې ویل به یې نړۍ به له موږ پرته ونه څرخېږي. (وېنستون چرچېل)

***

د انسانانو ناتواني د خپلو برخلیکونو له ټاکلو سره تړاو لري.

***

یو زوړ پاچا هم باید کله کله د تکبر احساس له ځان سره ولري.

***

ټول انسانان هیله لري نړۍ په هغه ډول ووینې چې دوی یې غواړي، نه داسې لکه څانګه چې ده.

***

کله چې مېینېږې، ټول شیان درته یوه ځانګړې مانا پیدا کوي.

***

زړه دې وپېژنه او غږ ته یې غوږ ونیسه. (پایولو)

***

سترګې د خپل روح د قدرت ترجمني کوي.

***

باد د نړۍ په هره څنډه الوزي، نه زېږنځای لري او نه هم د مړینې لپاره ټاټوبی.

***

بریالیتوب د هغه چا حق دی چې له ماتو یې درسونه ترلاسه کړي وي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

که زمونږ په کارونو کې (که څېرې) ونه اوسي، په یقیني ډول مونږ بریا ترلاسه کولی شو.

***

تل په ځان باور ولرئ، که یو ځل مو بریا خپله کړې وي، بیا یې هم خپلوی شئ.

***

ناممکنه هغه کلمه ده، چې یوازې د احمقو انسانانو په قاموس کې موندل کېږي.

***

څوک چې د ټینک عزم څښتن وي، نړۍ د خپل ذوق مطابق بدلوي.

***

یوازینی څیز چې زمونږ بریالیتوب محدودوي، هغه فکر دی چې وایي: نه شې کولی بریالی شې.

***

هغه انسان بریالی کیدای شي، چې د نورو په انتظار نه کیني او ټول کارونه په خپله کوي.

***

په یاد ولره، که څېرې د خپلو ستونزو مخه مو ونه نیوه، هغوی به ستاسې مخه ونیسي.

***

په خپل بخت او قسمت باندې اعتقاد تر ټولو بده غلامي ده.

***

که څېرې ستونزې لرئ مه ناهیلې کېږئ، لمر هره ورځ ټیټیږي، د دې لپاره چې په سهار کې بیا راوخیژي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هيله بښوونکې خبرې

بريا د خوښۍ کيلي نه، بلکې خوښي د بريا کلي ده.

***

ما ماته له بريا څخه وړاندې زده کړې وه، څوک چې تېروتنې نه کوي يو ځای نه رسيږي.

***

ايا نن د دې وخت نه دی رارسيدلی چې ته پريکړه وکړې او وښياست چې يو داسې ګټور انسان يې، چې مخکې نه تر سترګو کېدې؟

***

ټول شيان ستا له طرز رفتار سره کار لري، ځينې مسائل ممکن تا په لومه کې واچوي او يا تا بريالی کړي.

***

هره لويه بريا د زرګونو کوچنيو کوښښونو محصول ده، چې هېڅکله هم د نورو د مننې وړ نه ګرځي.

***

که په لومړي قدم کې بريا زموږ په برخه شوه، پوه شه چې د نور عمل او وړاندوينې هېڅ مفهوم نه درلود.

***

هر چېرې چې لويه بريا ګورې، تر شا يې د ماتو يو ستر کاروان تر سترګو کېږي.

***

بريالي هېڅکله نه تسليمېږي او تسليم شوي هېڅکله بريالي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هيله بښوونکې خبرې

هر هغه څه چې ما ونه وژني، مه قوي کوي.

***

د ژوند تر ټولو لوی خوند د هغه کار په ترسره کولو کې نغښتی، چې نور وایي: ته یې نه شې تر سره کولی.

***

د بریا د لاسته راوړنې لپاره دا قانون خورا مهم دی؛ لومړی دا چې له نورو ډېر وپوهېږې، دویم دا چې له نورو ډېر کار وکړې او درېیم دا چې له نورو کمه تواقع ولرې.

***

پام مو وي چې د هر راز پرمختک لپاره له هر څه وړاندې یوې قوي او نه ماتېدونکې ارادې ته اړتیا ده.

***

په ځان نه باور د یقیني ماتې سمبول دی.

***

د پرون ورځې ماتې خوړونکي، د نن ورځې بریالي منځته راوړي.

***

تل په یاد ولرئ، چې د بریا لپاره ستاسې پریکړې له هر څه مهمې دي.

***

د دې پر ځای چې په نه لرلو فکر وکړې، کوښښ وکړه څنګه کولی شې له خپلو شتو ګټه واخلې.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

له یوې منظمې برنامې پرته هېڅوک نه شي کولی په مهمو کارونو خپل تمرکز ولري او بریا ته ورسیږي.

***

همدا نن یې پیل کړئ، بریا له تا سره ده.

***

تل ځان ته وواياست: د بریا او ناکامۍ تر منځ توپیر زه په خپله یم.

***

د بریا قیمت کار او هڅه ده، که تاسو یې قیمت اداء کولی شئ په هر کار کې بریا له تاسو سره ده.

***

هر کار مو په یوه ازمایل شوې تجربه بدل کړئ، په هره ناهیلۍ او ماته کې یوازې د با ارزښته درسونو په لټه کې واوسئ.

***

هره ورځ مو ټولې ستونزې او مسائل له لوی څښتن سره شریک کړئ، هغه به تر ټولو بهتره حل لاره د بریا د ترلاسه کولو په پار ستاسې په لاس کې درکړي.

***

که چېرې انسان خپل دروني قوت وپېژني، کولی شي خپلو هیلو ته واقعیت وروبښي او بریا خپله کړي.

***

انسانان ماته نه خوري، یوازې هڅې او کوښښونه دروي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

هېڅوک نه شي کولی ستا له رضایت پرته په تا کې د حقارت احساس وزیږوي.

***

واړه فرصتونه تل د لویې بریا لپاره د مقدمې حیثیت لري.

***

د بریالي کېدو لپاره باید لومړی باور پیدا کړو، ژر یا وروسته. هغوی چې بریالي کېږي په خپله توانایي ایمان لري.

***

تل هغه څه پېښیږي چې باور وریاندې لرئ، ایمان او باور د دې سبب کېږي چې یو څه پېښ شي.

***

د بریالیتوب د ترلاسه کولو لپاره باید بیړه ونه کړې، دا هم ومنه چې بریا په یو چانس سره نه شي تر لاسه کېدلی او نه یې څوک له چا په زور اخیستلی شي.

***

بریا د یو سم تشخیص محصول ده، تشخیص له تجربې او تجربه بیا د ناسمې پېژندنې څخه لاس ته راځي.

***

د ارادې خاوند یوازې د مرګ غیږې ته ګونډې وهي، هغه هم په ژوند کې یوازې یو ځلې.

***

تر ټولو ستر ویاړ دا دی چې سقوط اختیار نه کړو او له هرې غورځېدنې وروسته بیا په پښو ودریږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د بریالیتوب  او پرمختک پر وړاندې تر ټولو ناوړه عقیده دا ده چې فکر کوې، ماته به وخوري.

***

زړور انسان فرصتونه راوړي او ډارن بیا د فرصتونو د راتلو په تمه کیني.

***

انسانان د میاشتې په څېر دي، چې یوه برخه تیاره له ځان سره لري، چې هېڅکله یې چاته نه ورښیي.

***

له تېر څخه درس واخله، په حال کې ژوند وکړه او د راتلونکي لپاره هیله مند اوسه.

***

ستوري له تیارو پرته د ځلېدو وړتیا نه لري.

***

تل وخنده، هر وخت چې کولی شې. خندا د شفا ورکونې تر ټولو ارزانه دوا ده.

***

مخکې له دې چې پل وران کړې، یوه کښتۍ جوړه کړه.

***

اړینه نه ده چې تېر مهال څومره سخت و، ته تل کولی شې له سره یې پیل کړې.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د بریالیتوب ساده، خو تر ټولو سخت اصل دا دی چې خپله واوسې، هغه ډول چې غواړې یې، نه هغه ډول چې نور یې غواړي.

***

یوازې یو شی چې کولی شي د یو خوب د ربښتیا کېدو مخه ونیسي، له ماتې څخه ډار او ویره ده.

***

معمولي انسان خنډونه ویني، او لوی انسان فرصتونه.

***

له نیمګړتیاوو مه زورېږه، هر نقص او نیمګړتیا ستا لپاره بډاینه ده، خو چې ریښتې یې وکارې.

***

تل په یاد ولره، همدا ستا ذهن دی چې د هر څه ارزښت ټاکي.

***

له ستونزو سره مخامخ شئ، مدیریت یې کړئ، مخکې له دې چې ستونزې له تا سره مخامخ شي او مدیریت مو کړي.

***

له الوتونکو سره ناسته له تا یو الوتونکی جوړوي، له ماتو خوړونکو سره ناسته له تا یو بایلونکی.

***

هدف نه ټاکل، د ماتې او ناکامۍ لپاره تګلاره جوړول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هيله بښوونکې خبرې

هغوی چې د بې لارې کېدو پر لور ګامونه اخلي، خپلې هیلې او ارمانونه یې ورک کړې دي.

***

تجربه تر ټولو ښه درس دی، که څه هم تدریس یې سخت دی. (کار لایل)

***

نیکمرغه هغه دی، چې د خپل وجدان پر وړاندې شرمنده نه وي.

***

ځواني هغه ستوری دی، چې یوازې یو وار د عمر په اسمان کې ځلېږي.

***

یا سمې خبرې وکړه، یا عاقلانه سقوط اختیار کړه. (جورج هربرت)

***

تاریخ د بې پایانه ژوند خطاووې دي.

***

تجربه له علم څخه وړاندې ده. (ابوعلي سینا)

***

د وجدان رضایت لویه مرتبه ده. (ژول سیمون)

***

د خاورې په لار کې قرباني ورکول د لویو او زړورو خلکو خوی دی.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

هر څومره چې ډېر فکر کوو، بهتر پوهېږو چې نه پوهیږو. (ماري ولټېر)

***

د کار رېښې ترخې خو میوې یې خوږې دي.

***

انسان په ژړا سره نړۍ ته سترګې غړوي، خو باید داسې ژوند وکړي چې په خندا له نړۍ سترګې پټې کړي. (سرنګ)

***

ما په نړۍ کې یو ملګری درلود، هغه هم زه په خپله وم. (ناپلیون)

***

علم چې له تقوا او پرهېزګارۍ څخه خالي وي، د یو پوچک ارزښت هم نه لري.

***

د پیسو احتراع کوونکي، د بشر د نیکمرغۍ قاتلین دي. (سنګا)

***

چاپلوسي ویونکی او اورېدونکی دواړه فاسدوي. (کارنګي)

***

د دې لپاره چې په تیارو باندې لعنت ووایې، پرځای یې یوه شمع روښانه کړه.

***

له ما پرته بل هېڅوک زما د نیکمرغیو او بدبختیو مسوول نه دی. (بودا)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

هڅه د انسان لومړی دنده ده. (ګویټه)

***

د ژوند یوازینی څرک پرمختګ دی. (جان هنري)

***

له نن څخه ګټه واخله او نن له لاسه مه ورکوه. (کارنګي)

***

خوږه مور د طبیعت شاهکار دی.

***

تقوا او ښه کولی شي، نیکمرغي واخلي.

***

نیک سړی د خپل وجدان غږ اوریدلی شي.

***

تر څو چې یو څه ونه منو، نشو کولی تغیر ورکړو.

***

که د بریالیتوب په لور ګامونه وانه خلو، هغه به ستا په لور هم له ګام اخیستلو ډډه وکړي.

***

د هر کار پیل، د هغه مهمه برخه ده. (اپلاټون)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د حقیقت منل، د حقیقت له ویلو سخت دي. (هېچکاک)

***

د خپل ځان د اداره کولو لپاره له سر څخه کار واخله او د نورو د ادارې کولو لپاره له خپل زړه څخه. (لاما)

***

بهترینه نیکمرغي د نورو لاس نیوی دی. (البرټ هوبار)

***

څوک چې ښه فکر کوي، لاژمه نه ده چې ډېر فکر وکړي. (المانی متل)

***

که غواړې تر ټولو غوره واوسې، لومړی باید معتقد اوسې چې بد یاست. (ایپیکوس)

***

زه له راتلونکي سره مینه لرم، ځکه خو باید پاتې عمر هلته تېر کړم. (کتریک)

***

څوک چې د خطر د قبلولو شهامت ونه لري، په خپل ژوند کې به هدف ته ونه رسیږي.

***

یوازې هغه څوک رټل کېږي، چې اجازه ورکوي ورټل شي. (الیکس هیل)

***

د نیکمرغۍ مهمه لار د مرګ حقیر ګڼل دي. (لوبون)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هيله بښوونکې خبرې

پوهه په يوازې ډول يو قدرت دی. (فرانسيس بيکن)

***

پوهيدنه کافي نه ده، بايد پرې عمل وشي. (ناپيليون)

***

په ياد ولرئ، هر څه ته مو چې خپل حواس متوجه کړل، هغه به لاس ته راوړئ.
(انتوني.ر)

***

انسان له خپلو افکارو جوړ دی، سبا به همغه څوک واوسې چې نن فکر کوې. (موريس)

***

د اخلاقو ښښتن د خپلې ټولنې روح دی. (امرسون)

***

خندا، د ژوند سره د روح بهتره جګړه ده. (اناتول فرانس)

***

موږ به هغه څوک اوسو، چې ټوله ورځ يې په اړه فکر کوو. (نايتين کل)

***

هېڅوک نه شي کولی پر مينه حکومت وکړي، خو دا مينه ده چې په هر چا حکومت کوي. (لافونتين)

***

زړور د جګړې او ميدان پر وخت خپل ملګري نه شماري. (لوی ارد)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله ښښوونکې خبرې

***

هر څومره چې لمر زیات وي، سیوري یې ژورې وي. (ګویته)

***

په تقوا او ښو کړنو سره کولی شو نیکمرغي راوینبه کړو. (زنون)

***

هغه چې د مرګ ګاونډي دی، له هېڅ هم نه ډارېږي. (لوی ارد)

***

بشر له نیکمرغۍ سره ډېر ژر عادت کوي، خو ژر یې هېروي هم. (اندره)

***

انسان له فکر او جسم څخه رغېدلی دی، د جسم په اړه قوانین وضع، اجراء او پای مومي، خو فکر هېڅ راز سرحد نه پېژني. (وین دایر)

***

هغوی چې په تا پورې خاندي، ستا ملګري نه دي. (الماني متل)

***

د انسان ریښتینی پرمختګ هغه وخت سر راپورته کوي، چې په خپل کردار او رفتار باندې برلاسی اوسي. (لوی ارد)

***

هغه ویاړ او مال چې د ناسمې لارې لاس ته راغلی وي، د یو ژر تېرېدونکې وریځې بېلګه لري. (کنفوسیوس)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

د انسان ښکلا له علم، محبت او خپلواکۍ سره تړلې ده. (اپلاتون)

***

هغوي چې په خپلې پوهې عمل نه کوي، د هغه ناروغ په څېر دی، چې دوا لري خو ګټه ترې نه اخلي. (دیمقراتیس)

***

د مینې یوازینی درملنه واده دی.

***

انسان هماغه دی، چې باور لري. (چخوف)

***

جهل، ځان غوښتنه رامنځته کوي.

***

په بریا باندې باور، له بریالي کېدو څخه ډېر ارزښت لري. (لوی ارد)

***

بډاینه ابزار ده، نه ارزښت. (لوی ارد)

***

ماهي او مېلمه دوه ورځې ښه، خو درېیمه ورځ بوی پیدا کوي. (اسپانیولي)

***

د واقعي ملګرتیا نیالګی ورو ورو غټېږي. (جورج واشنګټن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

جنت هم په یوازې ډول د لیدلو وړ نه دی. (دانته)

***

که د لیوانو میلمستیا ته ځې، خپل سپی دې هم درسره یوسه. (ګوېته)

***

د هرې ماتې علت، له فکر پرته د کړنو ترسره کول دي. (الکس مکینزي)

***

هغوی چې کولی شي ترسره کوي یې، خو هغوی چې نه شي کولی انتقاد کوي. (برنارډ شاو)

***

عاقل او با اخلاقه خلک هېڅکله داسې کلمات په خوله نه راوړي، چې د نورو احساسات خوږ کړي. (اسمایلز)

***

هلته چې طبیعت ودرېږي، هنر پیلېږي. (دورانت)

***

څنګه چې یاست، هماغه اوسه. (نیچه)

***

د نا ممکنو کړنو ترسره کول یو ډول خوند دی. (والټ ډیسني)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د ماشوم تربیت باید له زیږېدو شل کاله مخکې پیل شي. (ناپیلیون)

که غواړې د حال او راتلونکي لپاره ګټور ثابت شې، له تېرو درس واخله. (ناپیلیون)

***

کله چې لمر ته ګورو، بیا نو تیاره نه شو موندلی. (هیلن کالر)

***

وخت په خپله ډیرې اندیښنې له منځه وړي. (کارنګي)

***

هغه چې په خوله خندا نه لري، نه باید د خپل دوکان ور پرانیزي. (چیني متل)

***

کتابونه نفس اوباسي او ژوندي دي. (لوی ارد)

***

خندا د دوو کسانو ترمنځ تر ټولو نږدې واټن دی. (ویکتور هوګو)

***

بهترین انسان هغه دی، چې د نورو په حق کې نیکي وکړي. (کنفوسیوس)

***

هغوی چې پخې ارادې لري، د ماتې مخ به ونه ګوري. (مترلینګ)

***

احمق هېڅکله نه نیکمرغه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

د نورو تېروتنې د خپلو تیروتنو په څېر وزغمه. (فینلین)

***

د دې لپاره چې لوی اوسې، لومړی وړوکی اوسه. (هندي متل)

***

له حده زیاته ملګرتیا ، د ډارونکې دښمنۍ په څېره ده. (لوی ارد)

***

له چا سره چې مینه لرې ازاد یې پریږده، که چېرې مینه درسره ولري، بیرته به را وګرځي، که نه پوه شه چې له اوله ستا په کیسه کې نه و. (شکسپېر)

***

هغوی چې خپل تېر وخت له نظره نه تیروي، بیا به یې تکرار کړي. (جورج سانتاینا)

***

د ټولو انسانانو په منځ کې یوازې عقل دی، چې په کې عدالت مراعات شوی، ځکه هر څوک فکر کوي، چې په کافي اندازه عقلمند دی. (دکارت)

***

که چېرې راولاړ شې او د هغه سپي په لور چې درغپې تیږې وشړې، هېڅکله به هدف ته ونه رسیږې.

***

د زاړه نصیحتونه ډېر له درد او وینې ډک دي، خو افسوس چې ځوان یې له پوهیدو ناتوانه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

***

د یو ښه ژوند لپاره د ... په ښه سخت کار وکړه، د اسپ په ښه وخوره، د کېدړې په شان فکر وکړه او د سویی په ښه لوبه وکړه.

***

جرم دا دی چې ونه پوهیږو، ژوند له هغه هم ساده دی، چې موږ یې په اړه فکر کوو. (ف. نیچه)

***

بریالیتوب یوازې یو څه دی: ژوند د خپل زړه په خوښه تېر کړه. (کریستو)

***

پرته له خپل ځان څخه بل هېڅوک نه شي کولی په بهتره توګه موږ ته چل راکړي. (ګوېته)

***

بریا د ماتې په ستنو باندې صورت نیسي.

***

تېره ورځ تاریخ دی، سبا راز دی او نن ډالۍ ده. (لاما)

***

ډېر عمر مې له لاسه ورکړ، تر څو وپوهېږم په هر څه پوهېدل لازم نه دي. (رنه)

***

دوه غوږونه لرو او یوازې یوه ژبه، د دې لپاره چې ډېر واورو او لږ ووایو. (ډیویژن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هيله بښوونکې خبرې

***

شور او هيجان ولره ! خو هېڅکله عقل او منطق له ځان نه مه لرې کوه. (والسا)

***

يوه ښه مور په سلو ښوونکو ارزي. (جورج هربرت)

***

تر هغه چې بدبختي ونه پېژنو، تر هغې به د نيکمرغۍ لاس ته راوړل زده نه کړو. (ډيويډ وايټ)

***

هېڅکله د يو چا هيله مه ړندوه، ممکن يوازې همدا هيله د هغه ټوله بډاينه واوسي. (ارد)

***

سوړ غږ د ناهيلي سړي له سينې راووځي. (لوی ارد)

***

که خپل زړه ته غوږ ونيسې او مغز په کار واچوې، هېڅکله به تېروتنه ونه کړې. (براډلي)

***

ژوند له نورو څيزونو مه قربانوه، خو نور شيانو له ژونده قرباني کړه. (اشو)

***

په حقيقت کې بريالیتوب له يو فيصد کار او (۹۹) فيصده تېروتنو تشکيلېږي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

مبارزه ده، چې قدرت راوړي نه ستړیا. (استائل)

***

ماشومان د خوښۍ لپاره، له هر څه ډېر زموږ خوږو خبرو ته اړتیا لري. (لوی ارد)

***

تر ټولو فصیحه ژبه عمل دی. (شکسپیر)

***

د ژوند یوازینۍ ښه پرمختګ دی. (جان هانري)

***

صداقت د پوهېدنې د دفتر لومړنۍ څپرکی دی. (تامس جیفرسن)

***

هغه څه چې زموږ د روح د امنیت سبب کېږي، ایمان دی. (ګارودي)

***

له بریا تر ماتې یوازې یوه ثانیه واټن دی. (ناپیلیون)

***

ملګرتیا د انسان تر ټولو مهمه نیکمرغي ده. (هیوم)

***

اته وارې چې ولوېدې، د نهم وار لپاره بیا راپورته شه. (چیني متل)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د ژوند له ستونزو ډېره یادونه، غلامي منځ ته راوړي. (لوی ارد)

***

بدبختي کولی شي، موږ ته را زده کړي، چې نیکمرغه واوسو. (ژول رومن)

***

هر چېرې چې توره ده، هلته ارامتیا شتون نه لري. (لوی ارد)

***

انسان هماغه شیبه چې پریکړه کوي ازاد واوسي، ازاد دی. (والتر)

***

د ژوند جریان د عقل او عاطفې ترمنځ له مبارزې پرته بل څه نه دي. (مارک ټواین)

***

خندا چې د مړي پر شونډو کیني، بیا هم ښکلې ده . (کریستین بوبن)

***

ټول د ملګرتیا ادعا لري، خو هغه چې ثابتوي یې، ستا حقیقي ملګری دي. (ماکسیم کورکي)

***

هر هغه څه چې لوی څښتن یې له بشره غواړي، یو ارام او مهربان زړه دی. (اکهارت)

***

هوښیارتوب توانایي منځته راوړي او پوهه یو زوړ زړه ځوانوي. (فردوسي)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

اصیل انسان ذلیله کېږي، خو رذیلیږي نه. (رومن رولان)

***

پوهه له اخلاقي تکامل پرته وېرونکې او لامنځه وړونکې ده. (هالي تربون)

***

له هر څه وړاندې په دې ځان وپوهوه چې څه غواړې. (فوخ)

***

زړور هغه دی چې له ستونزو سره سره بیا هم خندا په شونډو ولري. (شکسپیر)

***

تېروتنه یو فرصت دی، تر څو هوښیار اوسو. (هنري فورډ)

***

د وجدان رضایت تر ټولو لویه مرتبه ده. (ژول سیمون)

***

یوازې عاقل انسان، واقعي شتمن دی. (هسپانوی متل)

***

د ټولنې عیب دا دی چې ټول غواړي ته یو مهم څوک واوسې، خو هېڅوک نه غواړي ته یو ګټور انسان واوسې. (وینستون چرچیل)

***

څومره ښکلي دي، هغوي چې تل یې په شونډو موسکا خوره وي. (لوی ارد)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

که ونه توانیږو چې ازاد ژوند وکړو، بهتره به وي چې د مرګ غیږې ته ښه راغلاست ووایو.

د مینې له معجزو یو دا هم ده، چې موږ یې له دردونو هم خوند اخلو. (ژان ژاک روسو)

***

له محبت څخه ډېیلي کلمه کولی شي، زموږ ټول ژمی ګرم کړي. (جاپاني متل)

***

مینه مه هېروئ او ناچیزه یې مه شمېرئ. (اپلاتون)

***

اې لوی څښتنه ! هنر څومره لوړ او عمر څومره لنډ دی. (ګویته)

***

هغه چې د نورو د تېروتنو په ثابتولو بوخت دی، دوی به له ځانه لرې کړي. (ناپلیون)

***

هر څومره چې خنډونه سخت او ناممکن وي، د بریا او کوښښونو خوند یې هم ډېر وي. (اریک باتروورت)

***

د لمر په لټه کې اوسه، لمر به پیدا کړې. (ارنټ)

***

بې تمې، ګټور او تل پاتې ملګری کتاب دی. (مارک ټواین)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

د نیکمرغۍ یو راز دا دی چې په کوچنیو نعمتونو هم شکر ادا کړو. (هرشېل)

***

د کم ظرفیته ککریو لپاره بریا یوه ګستاخي ده. (ایټالوی متل)

***

زړورتیا ولره، تر څو له حقیقت سره مخ شې. (استون)

***

کله مو چې د مینې اړیکې پای ته ورسیږي، په ساده ډول ووایه: ټوله ملامتیا زما وه. (جاکسون براون)

***

فریبکار بالاخره یوه ورځ ټول دوستان او ملګري له لاسه ورکوي. (لوی ارد)

***

په خپله پوهه باندې مغروربدل د جهالت یوه لویه نمونه ده. (جورجي ټېلر)

***

ربښتیا چې نړۍ له زاړو ځوانانو او ځوانو زاړو ډکه ده. (اسماېلز)

***

له هرې ژړا وروسته بالاخره یوه خندا شته.

***

په یوې خندا سره هر ورستا پر وړاندې خلاصېدای شي. (فرانکلېن)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

عاقل خپلې ژبې ته په زړه او احمق په خوله کې ځای ورکړی دی.

***

ښکلا د خدای (ج) د نعمت تر څنګ د شیطان لومه هم ده. (نیچه)

***

ترې ومې پوښتل ملګری بهتر دی که ورور؟ ویې ویل ملګری داسې ورور دی چې انسان یې د خپل ذوق مطابق ټاکي. (امیل فاګو)

***

له قضاوت کولو لاس واخله، چې ارامتیا تر لاسه کړې. (دیپک چوپړا)

***

له تجربې مې زده کړل چې انسانان هېڅکله له تجربې څه نه زده کوي. (برنارډ شاو)

***

یوازیتوب په جنت کې هم ارزښت نه لري. برنارډ داسن)

***

طبیعت د لوی خښتن هنر دی. (دانته)

***

په ژوند کې هېڅ شي له دې مهم نه دي، چې له خپل زړه سره په جګړه نه وې اخته. (کارستین)

***

ځان غوښتنه د یوازیتوب سخته تجربه له ځان سره لري. (لوی ارد)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هيله بښوونکې خبرې

لومړی درس چې والدین یې باید خپلو بچیانو ته ورکړي، صداقت دی. (شوپنهاور)

***

که چېرې یو څوک له تا سره په هغه ډول چې ته یې غواړې مینه ونه لري، داسې نه ده چې له تا سره په تمامه مانا مینه نه لري. (ګارسیا مارکز)

***

که نیکمرغي وجود ونه لري او موږ نیکمرغه ونه اوسو، موږ ځان ته دا حق وربښلی شو چې ورته هیله مند اوسو. (چخوف)

***

نیکمرغي په پوهه کې نه، بلکې له هغې څخه د ګټې اخیستنې په طرز پورې تړاو لري. (اوګاریو)

***

فریب کار تل د فریب خوړلو په حالت کې دی. (لوی ارد)

***

انسان کولی شي په بیا بیا ځلې په ښېلو لارو د اتلولۍ مقام خپل کړي. (لوی ارد)

***

که باور ولرې، ضرور یې ترسره کولی شې، ضرور. (ناپیلیون.ه)

***

بهترین شیان هغه وخت پېښېږي، چې فکر به یې هم ونه لرې. (مارکز)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هیله بښوونکې خبرې

نور له څنګه چې دي، ویې منئ. (کارنګي)

***

که زده کړې چې له ستونزو سره یوځای د خندا غږ بدرکه کړې، تل به یو څه د خندا لپاره ولرې. (کارول)

***

مال او مکان نه لرم، زما سرمایه زما خوښ روح دی. (هنري مېلر)

***

له حده زیاته مهربان اوسه. (جاکسون براون)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**